Feb 18, 1958

81

2 - JUN - 4
Copy ____ 1958

د۱۳۳۶ کال دحوت(۱)☆د۱۳۷۷ کال درجب المرجب(۲۹)
☆د۱۹۵۸ع کال دفروری (۱۸)

کابل

پەدی گڼەکښی

پښتنه پیغله * ك، آ-لیپدیف
پەروسیه او شور
وی اتحاد کښی ....
دتاریخ فلسفه * درنا
څخه بیره * دشیطان
ورور * انارکلی
راغلی لیك * توصیه *
ملي بڼي * کتاب :
دبنگ مسافری

ولولی

پرله پسی گڼه (۴۵۱)

زینبه مومنده

پښتنه پېغله

زه چه د چا خورد چا ترلـه دچا ورېره یمه
څنګه به قبول کاندې دا ګڼ ځلمی پیغور زما

آب زمـا دستر ګـو لـه پـردی نظره و وړ دی
ځکه ده شمله جګه سیالانو کښی دورور زما

څنګه چه پـه امـن مرغلره په سپېږ کښې وی
داسې زه په پاکه لمن لویـه کړمه مور زما

دا تـانده ځوانی می دپښتو په پت کښې نغښتی ده
نور نیمګړی عمر دی خدای نه کاندی سر تور زما

زړه می د فولادو دی خـوستر ګی د حیا لرم
بس لکه د پر ښی دلمر څرېـکه هم شی اور زما

تکنده غرمه کښی می خولی د خپل تندی څټـم
غېږ کښی می موتی ده او په لاس کښی د لولور زما

وړمـه داد رانه ګیډی په سر ، تر درمنده پوری
خیر دی خوچه خپل وی همیشه داښکلی شکور زما

لویه دسیالانو چم ګاونډ کښی په سپین مخ شومه
کېږی د پـر دو لـه تـو رمخه ځنی ، تـور زما

دا توری کوڅی به می دې ود کښې یوه ورځ وزی
دا تـاوده ساړه به کړی او به دزړ ګی اور زما

تاب کـه دساتلومـې ر اوړ لـی پښتانه نـه شی
یا لویه خاونده! کړی حیا خونـدی په ګور زما

له « ننګیالی » څخه انتخاب

(۲۷ کال)

(۲۲) گڼه

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

دامتیاز خاوند: پښتو ټولنه

دپښتو ټولنی مشر، گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر ! م، د، «ژواك»

پته: کابل نادر پښتون واټ دیل خشتی دیله مقابل دتیلفون لمبر (۲۱۲۹۱)

هغه څوك چه د ذلیل پر عیش غبطه کوی، ذلیل دی - ځکه چه ډیر عیشونه شته چه مرګ ترینه ښه دی

څوك چه سپك شی، په سپکاوی ئې څه پروانه راځی ځکه چه مړی دتپ او زخم په دردنه پوهیږی .

زین الله

ښاغلی رشاد قندهاری

ك، آ، لیبدیف

ښاغلی ك، آ لیبدیف چه دوې هفتې کېږی په پښتو ژبه کښی دزیات تحقیق او تتبع له پاره له روسیې څخه افغانستان ته راغلی دی، څرنګه چه دی لیکی په ۱۹۲۰ ع کال دمسکو دولایت په (کو، لو، منا) ښار کښی زېږېدلی په ۱۹۳۸ ع کال له منځنی ښوونځی او په ۱۹۴۲ ع کال دمسکو دختیز پېژندنی (شرق شناسی) له عالی ښوونځی څخه راوتلی دی.- ده په دغه عالی ښوونځی کښی پښتو ژبه دتخصص له پاره غوره کړې وه، په دغه برخه کښی دزیار اوبری له امله په ۱۹۴۳ ع کال دنوموړې عالی ښوونځی پښتو ښوونکی وټاکه شو له ۱۹۵۰ ع کاله څخه تر ۱۹۵۴ ع کاله پوری دهغه ښوونځی دپښتو څانګی مشرؤ اوس دمسکو دبین المللی روابطو په عالی ښوونځی کښی دپښتو ژبی او پښتو ادب د تاریخ درس ورکوی.

ښاغلی لیبدیف په ۱۹۵۰ ع کال دیوه علمی تألیف له امله د علمی درجې کاندید موندلی او په ۱۹۵۱ ع کال ئې د «دوڅېنت» Docent علمی لقب اخیستی دی.

دده مؤلفات دادی :-

۱- گراماتیکا ازی کاپو ښتو یعنی د پښتو ژبی گرامر -دا کتاب چه په ۱۹۵۶ ع کال په مسکو کښی چاپ شوی دی ۲۳۳ مخونه لری ۱۶۲ مخه ئې صرف او پاته ئې نحوده.

۲- دپښتو ژبی لنډ گرامر په ۱۹۴۵ ع کال چاپ شوی دی

۳- دپښتوز غلرونکی (صایت) توری او حرکتونه

۴- پښتو ښوونکی

۵- پښتو منتخبات

ده بر سېره پردې کتابو دپښتنی سندرو او پښتنی نکلو په باب کښی مقالې خپرې کړی او ډېرې پښتو لنډۍ، ځینې پښتنی نکلونه او دپښتو دمشهورو شاعرانو څه اشعار ئې په روسی ژبه اړولی دی، په پښتو ژبه کښی دده دا فادې قدرت او علمی اندازه گران لوستونکی دده له دغی اوږدې مقالې څخه چه د (په روسیه او شوروی اتحاد کښی دپښتوز ده کړه او مطالعه) ترعنوان لاندی د کابل مجلې په دغه گڼه کښی خپرېږی معلومولای شی ددې مقالې په املاء انشاء او محاوره کښې داداري له خواهېڅ لاس نه دی وهل شوی او کټه مټه چاپ شوې ده

ښاغلی ، ك ، آ ، لبیدیف

په روسیه او شوروی اتحاد کښی

د پښتو زده کړه او مطالعه

گرانو لو ستو نکوازه ډیر خوشحاله یم چه ستاسی هیواد افغانستان ته راغلی یم او موقع می وموندله چه د مسکو د ټولو پښتو پیژندو ونکو له خواتاسی ته د کابل د مجلې په ذریعه سلام ووایم .

زه غواړم چه تاسی ددی خبری سره اشنا کړم چه په پخوانی روسیه او اوس شوروی اتحاد کښی د پښتو ژبی او پښتو ادب په شاوخوا کښی څه علمی تحقیقات او مطالعی وشوی او هم کیږی.

ټولو ته دا خبره ښه معلومه ده چه ژبه د خلکو تر منځ د روابطو او مفاهمی او هم تر ورو کسانو ته د بل سړی د افکارو، نظریو او مفکورو د ښکاره کولو او څرگندولو یوه ښه وسیله ده . که مونږ د کم ملت او اولس په ژبه پوهیږو او هم پری خبری کولای شو نو په اسانتیا سره به د هغه قوم او ولس د ادب ، کلتور ، فولکلور او دودونو سره اشنائی او پیژندگلوی پیدا کړو او په ښه ډول به پری ځان وپوهوو. ژبه د دنیا دو گړو تر منځ د ټینگی دوستی روابطو د قائمولو د پاره هم یوه ښه اله ده .

زموږ عالمان او پوهان دا خبره تل په یاد لری او هیڅ کله ئی نه هیروی نو ده دی په وجه اوس پوهانو او عالمانو د گاونډی پښتنی ولس د ژبی سره ډیره علاقه درلوده او لری ئی او له پخوانو وختونو نه ئی تر علمی مطالعی لاندی نیسی.

د پښتنو زده کړه په تزاری روسیه کښی

د تیری پیړۍ په لومړۍ برخه کښی په روسیه کښی د پتر سبورگ په پوهنتون کښی نامتو او پیاوړی مستشرق پروفیسور (دورن Dorn) لمړی سړی و چه د پښتو په تدریس کولو ئی شروع وکړه .

پروفسور (دورن) د پښتو په شاوخوا کښی یو څو کتابونه او مقالی چه هغه وخت ئی د ایرانی ژبو د مطالعی د پاره ډیر اهمیت درلود او د پښتو په اینده زده کړه کښی ئی هم مهم رول ولوباوه ولیکلی چه د هغو په جمله کښی پښتو گرامر، پښتو منتخبات او دری نور تالیفونه دی . برسیره پر هغه (دورن) د پښتنو شاعرانو او لیکوالو قلمی کتابونه او آثار را ټول کړل . دا جوته خبره ده چه پروفسور (دورن) د پښتو سره ډیره علمی علاقه درلوده په وروستیو وختونو کښی غربی مؤلفینو به د (دورن) د تالیفو څخه استفاده او اقتباس کاوه او دا خبره د روسی مستشرق د آثارو د پښتو د اینده زده کړه د پاره اهمیت یو ځل بیا ثبتوی . که څه هم پروفسور (دورن) د نورو ایرانی ژبو په مطالعه کولو لگیا شو او پښتوئی پریښوده خو بیا هم په روسیه کښی د پښتو سره علاقه

ښاغلی ك ، آلیبدیف په روسیه کښی دپښتوژب پوهاند

ورکه نه‌شوه. دشلمی بیړۍ په سر کښی (تومانوویچ) او (یوفیموف) دپښتو دوه کتابه ولیکل چه په تاشکند کښی چاپ شول

دپښتو مطالعه او زده کړه دشوروی حکومت په وخت کښی:

دشوروی حکومت په وخت کښی دپښتو علمی مطالعی اوزده کړه نه یوازی نه بس کیږی بلکه ورځ په ورځ مخ په وړاندی ځی مشهور او نامتو شوروی مستشرق او په فارسی ادبیاتو کښی لوی لاس لرونکی پروفسور (بیرتلیس B rtels) دپښتو ژبی نه هم غاړه ونه غړوله او دپښتو سره ئی ډیره علاقمندی ښکاره کړه او دپښتو دزده کړه په پرمخ بیولو کښی ئی هم خدمت کړی دی.

پروفیسور بیرتیلس یو کتاب چه دپښتو دگرامر اساس نومیږی او یوه مقاله ئی چه عنوان ئی دپښتو دقندهار لهجه دی لیکلی دی. دلیننگراد په پوهنتون کښی ئی هم د پښتو تدریس کړی و. له دی وخته دپښتو تدریس خپله لمن پراخوی او په ۱۹۳۹ ع کال کښی په مسکو کښی ښاغلی اسلانوف د مسکو دشرق شناسۍ په عالی ښوونځی کښی هم دپښتو په سبق ورکولو پیل وکړ. د ۱۹۳۹ کال نه نیولی او تر اوسه پوری ډیر کسان پیدا شول چه پښتو ئی زده ده هغه ټول دمسکو دشرق شناسۍ د عالی ښوونځی فارغ التحصیلان دی.

سر له هغه کاله دپښتو د درسی کتابو چاپیدل هم مخ په زیاتیدو دی او د پښتو کتابو شمېر ډیرېږی. په مسکو کښی د پښتو په شاوخوا کښی راز راز کتابونه او مقالی لیکلی کیږی چه دپښتو د زده کولو او تر علمی مطالعی لاندی نیولو دپاره ډیر اهمیت لری.

په ۱۹٤٥ کال کښی په روسی ژبه دپښتو لنډ گرامر په ډیره چاپ شو، دغه گرامر زماله خوا لیکل شوی دی په همدغه او نورو کالو کښی د اوسنی پښتنی لیکوالو گل پاچا الفت صدیق الله رشتین، عبدالروف بینوا، قیام الدین خادم او نورو لیکونکو قصی او نکلونه دیوه کتاب په ډول چاپ شول او همدغه رنگه دپښتنی افسانو او حکایتو یوه مجموعه چه ټولونکی ئی ښاغلی اسلانوف دی چاپه شوه. دغه ټول کتابونه دمسکو دشرق شناسۍ د عالی ښوونځی په مطبعه کښی په تیزه چاپ شوی دی. بر سیره پر نوموړو کتابو ډیر نور درسی پښتو کتابونه هم چاپ دی په ۱۹۵٦ کال کښی د مسکو د بین المللی روابطو د عالی ښوونځی په مطبعه کښی دپښتو لوی گرامر چه ۲۲۸ مخونه لری چاپ شوی دی. دالومړی پوره پښتو گرامر دی چه په روسی ژبه لیکلی او چاپ شوی دی. دغه کتاب دری برخی لری ږغ پوهنه صرف او نحو. دغه گرامر د شوروی ژب پوهنی پر اساس لیکلی دی. په دغه کتاب کښی می دپښتو توری او آوازونه تر علمی مطالعی لاندی نیولی دی او دې نتیجی ته رسیدلی یم چه په پښتو کښی اوه Vowels (ږغ لرونکی توری) شته چه هغه دا دی: او (o) او (oo) آ (aa) اې (e) ای (i) ا (u) او زور کی. دنحو په برخه کښی می پر پښتو جملو څیړنه کړی

اولیکلی می دی چه پښتو جملې د جوړېدو او معنی له مخې څه ډوله وي . په شوروی اتحاد کښې اوس د پښتو تدریس اوزده کړی د ښه کولو په چارو کښې ډېر زیار ایستل کېږی او شوروی پښتو پېژندونکی هر څه چه د دوی په وس کښې دی کوی ئې. اوس په مسکو کښې د بین المللی روابطو په عالی ښوونځی کښې د لومړی کورس د پاره پښتو ښوونکی لیکل شو دی ی او ژر به تر چاپ لاندی و نیول شی . د غه ښوونکی ۲٤ سبقونه او هر سبق دری برخی لری: گرامری برخه لوستنه او تمرینونه. د دغه پښتو ښوونکی لیکونکی پېغله رویا کالینینا ، پېغله او د میلا یا څېویچ او لېدیف دی .

سربېره پر نوموړو کتابو په مسکو کښې په دولتی مطبعه کښې دوه قاموسه چاپ شوی دی . یوه پښتو روسی او بل روسی پښتو قاموس چه تولوونکی ئې ښاغلی «زودین» دی. علاوه پر هغو قاموسو یو بل لوی پښتو روسی قاموس تول او لیکل شوی دی خو متاسفانه هغه لا چاپ شوی نه دی . د هغه قاموس لیکونکی او ټولونکی ښاغلی اسلانوف دی.

د شوروی اتحاد حکومت هم پښتو ته ډېره توجه ور کوی او ځکه په ۱۹۵۵ع کال کښې ئې تصمیم نیولی دی چه باید د مسکو په راډیو کښې مستقله پښتو څانګه (شعبه) تشکیله کړه شی. اوس دغه څانګه خپلې خپرونی په پښتو براد کاست کوی ،

د دغی څانګی تشکیلیدل زمونږ د مملکتو ترمنځ د اطلاعاتو مبادلی ته ډېره ګټه رسوی او د مسکو د ټولو پښتنو پېژندونکو سره هم ډېره مرسته کوی .

موږ په دی خبر چه مسکو ته اصلی پښتانه راځی ډېر خوشحاله شوو. د دغو ځوانو پښتنو نومونه جلالی او فهیم دی. دوی د پښتو په مطالعه اوزده کړه کښې را سره ډېره مرسته او کومك کوی. دغه ځوانان د خپل کار د پاره ځان نه سپموی او ډېر کار کوی د ستاینی وړ خبره داده چه دغه پښتنو په مسکو کښې داستو ګنې په لنډ سوده کښې روسی ژبه زده کړه او ډېره کامیابی ئې وګټل او اوس دوی په اسانتیا سره په روسی ژبه خبری کولای شی .

په شوروی اتحاد کښې د پښتو دادب سره علاقه :

د مسکو په کتاب خانو کښې د پښتو دادب په باره کښې د کتابونو شمېر ګڼ نه دی خو بیا هم هغه کتابونه چه دی دې ته امکان را کوی چه مونږ د پښتو دادب سره اشنائی وکړو.

په شوروی اتحاد کښې نه یوازی پوهان او عالمان د پښتو دادب سره علاقه لری بلکه ټول شوروی خلك د پښتنو د افسانو حکایتو او اشعارو سره خپله علاقمندی ښکاره کوی. زه باید و دې ته اشاره وکړم چه د ۱۹۵۵ کال د مخه شوروی لوستونکو د پښتنو د فولکور او نظم په باره کښې لږ لږ معلومات در لودل کمه. یوه پښتنی افسانه او قصه ئی په روسی ژبه نه وه لوستلې سره له دی چه ښاغلی اسلانوف د پښتنو د فولکور په باره کښې یو علمی تالیف لیکلی دی خو هغه چاپ شوی ندی او س په شوروی اتحاد کښې د پښتو دادب مطالعه او د پښتنی سندرو، افسانو او حکایتو نشر یدل زیاتېږی، پرېږدی چه یو څو مثاله راوړم:

په ۱۹۵۵ کال کښې په مسکو کښې دوه کتابه له چاپ نه راووتل. دیوه کتاب دچاپ شمېر درې لکه او پنځلس زره او دبل کتاب شمېر لس زره و. هغه دپښتنو دافسانو او او پښتنو داشعارو منتخبات دی. شوروی لوستونکی دهغه کتابو په لوستلو داسی تېزی دی چه ټول کتابونه په څو ورځو کښې پلورل شوی و. ددغو کتابو په ذریعه شوروی لوستونکی د پښتنی فولکور او دخوشحال خان خټک، رحمان بابا، عبدالقادر او دنورو شاعرانو د اشعارو سره اشنا شول.

دوېلو وړ خبره همداده چه د شوروی اتحاد وګړی دپښتنو مشهوری افسانی او قصی و کتلی لکه آدم خان او درخانۍ، فتح خان برېڅی، دلی او شاخو، ښادی او بیبو، مرد او نامرد، ظریف خان او مابۍ قطب خان او نازو خېشکیار او شاترینه په ډېره دلچسپۍ او انترسټ سره حکایتونه هم ولوستل شول. دغه افسانی نه یوازی په روسی ژبه ترجمه شوی دی بلکه په ترکمنی ژبه هم ترجمه شوی او په اشخاباد (عشق آباد) کښې چاپ شوی دی. دغه خبره داثبتوی چه په شوروی اتحاد کښې د پښتنو دفولکور سره ډېر علاقه شته ده.

سبز کال په دولتی مطبعه کښې دپښتنی افسانو او اشعارو لویه مجموعه په روسی ژبه چاپېږی پدغه مجموعه کښې دخوشحال خټک، رحمان بابا، عبدالقادر، کاظم خان شیدا، شمس الدین کاکړ، پیر محمد کاکړ، ګل پاچا الفت، عبدالروف بېنوا او نورو شاعرانو اشعار داخل شوی دی.

پېغلی (یاڅیویچ) او ما اشعار په روسی ژبه ترجمه کړی دی او روسی شاعرانو له هغه څخه روسی شعرونه کړی دی سربېره پر نو موړو اشعارو می د دغه کتاب د پاره ډېری لنډۍ چه د روسی لوستونکو ډېری خوښی شولی روسی کړی دی، په تېر ۱۹۵۷ کال کښې می دوی مقالی چه یوه د پښتنی سندرو او بله دپښتنو دافسانو په باره کښې دی لیکلی دی دغه مقالی به د مسکو بین المللی روابطو دعالی ښوونځی د تالیفو په مجموعه کښې نشر شی. اوس یوه داسی مجموعه تهیه شوی ده او ژر به له چاپه راووزی.

داهم په زړه پوری خبره ده چه اوس په شوروی اتحاد کښې نه یوازی پښتو کتابونه روسی کیږی بلکه روسی کتابونه هم په پښتو ژبه ترجمه کیږی ما ته معلومه ده چه اوس په مسکو کښې څلور روسی کتابونه پښتو کړل شوی دی او دهغو په جمله کښې یو ډېر ښه او خوندور کتاب دی چه (ازبکستان ته سفر) نومیږی دا باید هم ووایم چه اوس دافغانستان او شوروی اتحاد ترمنځ کلتوری او ثقافتی روابط ورځ په ورځ ټینګیږی او پراخیږی او دا په دې سبب کیږی چه مونږ غواړو ګاوندی سوله دوست افغانستان د آزادی خوښونکی او توریالی ملت سره په ښه ډول پیژند ګلوی وکړو. په شوروی اتحاد کښې نه یوازی دافغانستان په باره کښې پښتو کتابونه په روسی ژبه ترجمه کیږی بلکه شوروی لیکوال او شاعران دافغانستان دسوله غوښتونکی او زیار ایستونکی ملت دژوندانه په شاوخوا کښې مقالی تالیفونه او شعرونه لیکی او شوروی لوستونکی ئی په ډېر جدی انترسټ او علاقمندی سره لولی او دافغانستان دملت دژوند په باره کښې دمعلوماتو تنده ئی هم په ماتوی.

د ۱۹۵۸ع کال دفروری (۲۱)

ښاغلی محمد حسن «سایی»

دتاریخ فلسفه

څرنګه چه تاریخی حادثات او موضوعات له یوې خوا کامپلکس او نسبت نورو طبیعی حادثاتو نه زیات مغلق او متداخل دی اوله همدی کبله دتاریخ علم سره له خپلو تولو کوششونو او زیارونو تر اوسه لا نه ده بریالی شوی چه دتاریخی حادثاتو منبع او مبداء او دهغو ماهیت او حقیقت په مثبت او عینی دول ایضاح او ښکاره کړی.

اوله بلی خوا لکه څنګه چه از والد کولپه لیکی «دتاریخ دعلمی بحثو نو نتیجی زیاتره له نورو علومو څخه ظنی او احتمالی حالت لری او له همدې کبله همیشه دا سوال پیښیږی چه آیا مونږ تر کومه ځایه پوری حق لرو چه دتاریخی نیمګړی مدارکو دتکمیل دپاره له ځسانه اقدام وکړو؟ او تر کومه ځایه پوری لازمه ده چه په تاریخ کښی د (قانون) تصور تردقت او تحلیل لاندې ونیول شی؟»

البته پدې کښی شك نشته چه دتاریخ علم دخپل تحقیقاتی اصول (دوثائقو تحلیل او انتقاد) په مرسته دیوې تا کلې پیښی په متعلق ثقه معلومات پـه لاس راوړای شی خو دا چـه دهغی پیښی حقیقت او ماهیت څـه او علتو نه او عوامل ئی کوم دي؟ یا دغه پیښه تصادف او اتفاق منځ ته راوستله او که علتونو او عواملو؟ یا دغه پیښه دجبر ترقانون لاندې پیښه شویده او که داختیار له مخی؟

دغه راز سوالونو ته دتاریخ علم دارزش دپاره بوقانع کوونکی او یو مثبت ځواب نشی ویلای. ممکن چه دتاریخ علـم دخپـل تحقیقاتی اصول په مرسته دیوې تا کلې پیښې تا کلی علتو نه او عوامل هم ومومی او داهم ښکاره کړی چه دغه پیښه دتصادف او اختیار له مخې نه بلکه دعلتونو او دجبر نه مخې پیښه شویـده خو بیاهم نشي کولای چه ټول تاریخی حادثات او پیښې دیو معین او مثبت قانون لاندی ثابت او ښکاره کړی حال داچه دیوې حادثې ماهیت او حقیقت برسیره کول خو کوم قانون مـاهیت او حیثیت نشی لرلای.

داخو ځکه چه دتاریخ علـم له یو خوا خصوصی حادثات او میعن او تا کلی موضوعات څیړی اوله بلې خوا دهغو ماهیت او حقیقت نشی برسیره کولای او ترهغو چه تاریخ دحادثاتو ماهیت او قوانین ئې ثابت نه کړی له یو خوا یو مثبت علم نشی کیدای اوله بلې خوا فلسفی ته اړه لری نه یوالحی تاریخ بلکه هرعلم ترڅو چه دخپلو مربوطو حادثاتو دپاره ئې قانون مجرا نه وی پیدا کړې مثبت علم نشی کیدای او دفلسفی نه نشی مستغنی کیدای داخو ځکه چه علوم له فلسفی نه زیږیدلی او فلسفه دتولو علومو مورده هغه زوی او لور چه ترڅو دخپلی ګټې وتې نه وې شـوی او پخپلو پښو نه وی ودریدلی او دژوندانه پیټې پخپلو اوږو و نشی اخیستلای نو تر هغو دمور او پلار

مرستې او مهربانۍ ته اړوي څو کله چه پخپلو پښو ودريږي، زلمي او ځوان شي او دژوندانه پيټي وړاي وشي، نو بيا خپل مور او پلار ته دومره نيازمندي او اړتيا نه احساس کوي.

تاريخ چه په علومو کښې د کشر او ماشوم حيثيت لري نو ځکه دخپلې مور (فلسفه) له غېږي نه وي راوتلي او د هغې مرستې او مهربانۍ نه دا نه وي بې نيازه شوي.

نو د تاريخ د علم د دغو پورته معذرتونو او نميګړتياو او نورو لحاظونو پر بنا د تاريخ فلسفه تبارز کوي، وړاندې راځي او خپل رول لوبوي او پخپل فعاليت کښې «هغه مسئلې تر بحث لاندې نيسي چه د تاريخ علم هم له هغو سره سرو کار لري» مثلاً «پداسې حال کښې چه د تاريخ علم د تېر شويو حوادثو په شرح لګيا وي د تاريخ فلسفه د هغو حوادثو تر منځ ارتباط او د تتابع علت ئې پلټي او يوه معقوله رابطه د هغو په منځ کښې برقرار کوي او په تاريخي پېښو کښې علتونه او معلولونه کشفوي او د غسې نتيجو ته درسېدو د پاره د تاريخ فلسفه د حقائقو او وقائعو راز راز انواع چه عادتاً د تاريخ د علم د بحث موضوع نه ګرزي په نظر کښې نيسي لکه او به او هوا، جغرافيائي موقعيت، نژادي صفات او د مللو د اقتصادي اوضاع او لکه داسې نور مسائل ....»

«د تاريخ فلسفه نه يواځې دا چه د تاريخ د علم د پاره يو فلسفي اساس وضع او تاسيس کوي» او يا له هغه سره د حادثاتو د ښه پېژندلو او د حقائقو د ښه برسېره کولو او يا تاريخي موضوعاتو او حادثاتو ته د قانون د مينډلو په منظور کوشش کوي بلکه څو ګامه د مخه اخلي او هغه عمومي او کلي سوالونه تر بحث لاندې نيسي چه کله کله ئې انسانان له ځانه کوي مثلاً «دا چه مونږ له کوم ځاي نه راغلي يو؟ او څه د پاره موجود يو؟ او د کوم مقصد په لوري روان يو؟» او داسې نور سوالونه کوم چه په غير مستقيم او غير مرئي ډول په جهان او د عالم بشريت د ژوندانه په سرنوشت اړه او تأثير لري. چه د تاريخ د فلسفې د غه برخه بيا پخپله د فلسفې عمومي نظرياتو ته اړه ده.

بنا پر دغو بيانا تو مونږ کولای شو چه د تاريخ د فلسفې وظيفه په دغو لاندې څو کرښو کې خلاصه کړو:

د تاريخي حادثاتو د علت العلل کشفول او د هغو اصلي منشاء او مبداء مينډل. او قوانين ئې تثبيتول او د تاريخ علم ته ديو فلسفي اساس وضع کول د تاريخ د فلسفې اساس وظائف دي.

«او د دغو وظائفو د اجرا او تعميل د پاره تاريخي مسائل له دغو درې لارو ته لکه نظري، يا عملي او يا تفسيري په يوه لاره تر مطالعې لاندې نيسي.»

او د تاريخ فلسفه د خپلو وظائفو په لړ کښې د مطلوبو نتيجو ته درسېدلو د پاره دغه لاندې موضوعات تر بحث لاندې نيسي.

۱- حادثات ولې او څنګه پېښېږي؟

۲- جهان او ټول کائنات څنګه اداره کېږي او کوم

سیر تعقیبوی ؟

۳-دمد نیتو نو د انکشاف او انحطاط عوامل کوم دی ؟

٤-نوابغ او قائدین او شخصیتونه ولې او څنګه منځ ته راځی ؟

او د دنیا په چارو کښې څومره تاثیر لری؟ او داسې نور .....

تر هر څه د مخه دا باید وویل شی. چه د تاریخ د فلسفی د دغو پورته ذکر شو یو موضوعاتو او مسائلو په متعلق پوهانو او فیلسوفانو مختلف آراء او افکار او نظریات لرلی او ښکاره کړیدی او دغو موضوعاتو ته چا په یوه ستر که کتلی دی او چا په بله. د چا طرز تلقی یو راز ده او د چا په بل راز او بالاخره چا د دغو موضوعاتو اساس او منشاء ماده او اقتصادی عوامل چه مونږ ئې دلته دماتریالست «دمادیت طرفدار» په نامه یادوو او چا روح او متافیزیکی قدرتونه چه هغو ته ایډیالست «د حیا او معنویت طرفدار» وایو کڼلی دي.

چه دادی مونږ اوس د تاریخ د فلسفی د دغو ذکر شو یو موضوعاتو او مسائلو د هر یوه په متعلق د دغو د واړو نقیضو او متضاد و ډلو پوهانو نظریات او طرز تلقیات لږ او ډیر په لاندې ډول لیکو:

۱- حادثات ولې او څنګه پېښېږي ؟

ایډیالستان عقیده لری چه کائنات د خدای د ارادی او مقاصدو مظهر ګاه ده او حادثات یو اځی د خدای په اراده او قدرت منځ ته راځی

کومې پېښې چه په طبیعت او یا په بشری ټولنو کښې پېښېږی هغه هم د خدای د مطلقې ارادې تر سیوری او د انسان چه روحاً له خدای سره ارتباط لری - او له هغه نه منشاء نیسی د مخیری او آزادې ارادې له خدا منځ ته راځی.

کشیش کالوب یو افراطی ایډیالست وائي: «ماده نشته هر څه چه شته هغه مجرد عقل او روح دی چه په راز راز رنګونو او شکلونو مونږ ته ځان ښکاره کوی. دغه مجرد عقل او روح په دنیا او ټولو کائناتو باندې حکومت چلوی او بې له خدای نه بل د هېڅ شی او هېچا تابع نه دی. څه چه غواړي هغه کوی».

لایب نتس یو بل ایډیالست وائي: «د هر شی او هرې پېښې اساس او تاد او روح دی چه دغه روح په ډېرو ذراتو چه شمېر ته هېڅ نشی راتلای و پشل شوی او ټوله دنیا او کائنات له دغو روحی ذراتونه ډکه ده. د دنیا او کائناتو هر شی او هره پېښه د روح یو ډول تجلا او د هغه تقاضا ده.»

ګوستا د لولون وائی: هغه ټول حادثات چه په بشری ټولنو کښې په راز راز رنګونو او نومونو پېښېږی د هغو اصلی منشاء او مبدأ روحی عوامل دي. او بس.

«دوی [ایډیالستان] عقیده لری چه حادثات همېشه هغه وخت پېښېږی چه په یو څه شی کښې اضداد او تناقضات نه وی موجود او محیط او ماحول ټول سره متفق وی.»

«او څرنګه چه طبیعت د کائناتو یوه تصادفی مجموعه ده نو له همدې کبله هر هغه څه چه په طبیعت کښې هم پېښېږی د تصادف او اتفاق مېوه ده او بس.»

«حادثات دهېڅ رازعواملو او شرائطو زېږنده نه دی بلکه په مستقل ډول پېښېږی .»

عوامل او شرائط او سببونه البته ظاهراً د حادثاتو په پېښېدو کښې زمونږ نظرته مؤثر او دخیل ښکاری ؛ خو حقیقتاً مؤثر نه دی . ځکه په دنیا کښې ټول شیان مستقل او حقیقتاً مجرد دی او په مستقل ډول هم تبارز کوی او بنا په دې هېڅ علت معلول او هېڅ معلول علت نلری .

ځینې معتدل ایډیالستان وائی : «البته ماده شته خو هغه احساس نشی کولای [۱] او دهغه له کمی تغییر او حرکت نه هېڅ نه پېښېږی او هغه څه چه احساس او ادراك کولای شی او د ټولو حوادثو اصلی علت او محرك ګڼل کېږی هغه روح دی او بس »

دا ؤ د حادثاتو دولې او څنګه پېښېدو په حقله دایډیالستانو عقائد او نظریات اوس به وګورو چه ماتریالستان دې سوال ته چه حادثات ولې او څنګه پېښېږی ؟ څه ځواب وائی :

ماتریالستان وائی : «طبیعت لکه څنګه چه ایډیالستان وائی د کائناتو یوه تصادفی مجموعه نه ده او هېڅ شی په کائناتو کښې په مستقل او مجرد ډول نشته او نه پېښېږی . او ټول کائنات یو په بل پسې لکه د زنځیر حلقې نښتی او تړلی دی او بنا بدې هر علت معلول او هر معلول علت لری .»

«طبیعت لکه څنګه چه ایډیالستان فکر کوی ساکن او بی حرکت نه دی بلکه حرکت او تغیر کوی ، یو څه نوی پکښې پیدا کېږی او مخ په لوړه ځی تکامل کوی او یو بل څه په کښې زړېږی او له منځه ځی ،

په طبیعت کښې هر شی او هره پېښه په خپل منځ کښې اضداد او تناقضات لری او ټول یوه منفی او یوه مثبته خواه یو ماضی او یو مستقبل لری او په خپل منځ کښې داسی عناصر لری چه ځینې ئې مخ په فنا او نابودۍ او ځینې ئې ترقۍ او تکامل په حال کښې لیدل کېږی ،

د دغو اضدادو او تناقضاتو تر منځ جګړه او دهغو چه مری او فنا کېږی او دهغو چه نوی پیدا کېږی د دوی تر منځ جګړه دغه ټولې جګړې او شخړې د تکامل پایه او اساس ګڼل کېږی .»

«هګل یو المانی پوهاند چه د نقیضینو د اجتماع امکان ته معتقد دی وائی : چه هر شی په خپل منځ کښې یوه منفی خوا او یوه مثبته خوا لری او دغه منفی او مثبتې خواوی همېشه یو له بل سره په مجادله اخته وی د دوی له مجادلې او جګړې نه چه کومه نتیجه راوځی هغه هم په خپل منځ کښې منفی او مثبت خواوی (تناقضات) لری . چه هغه هم بیا په خپل منځ کښې په مجادله اخته وی او بیا چه کومه نتیجه له هغو نه راوځی په هغو کې هم تناقضات موجود دی . او دا سلسله همېشه او په یو لامتناهی صورت ادامه لری ،

دی (هګل) دیو شی مثبتې خوا نه تز او منفی خوا ته ئې انتی تز او کومه نتیجه چه د تز او انتی تز نه راوځی هغه ته سن تز یا د اضدادو ترکیب وائی»

(۱) مطلب مغز دی .

نو دهګل ددې فلسفی او منطقی
پرنسیپ په اساس سن تز عبارت دی
له حادثې نه چه د تز او انتی تز
له فعالیتو نو او مجادلو نه منځ
ته راځی.
څرنګه چه تکامل د طبعت یو حتمی
سیر دی نو هره حادثه چه پکښې
پېښېږی هغه د تکامل د ناموس
تقاضا او ایجابات دی.
او لکه څنګه چه ایډیالستان
تصور کوی دنیا د مطلق عقل او
روح مظهر او زیږنده نده بلکه
دنیا په خپل ذات کې مادی ده او
د عالم راز راز شیان او پېښې
د مادې مختلف صورتونه دی»
«او په تاریخ کښې هیڅ یوه پېښه
ناڅاپه او په اتفاقی ډول صورت
نه نیسی او تو لې پېښې د علیت له
مخې پېښېږی او عالم او جامعه
د خپل تکامل او ارتقا په لیار کی
د ډیټرمنیزم (جبر) تر قانون
لاندی دی او د یوې ذرې قدرته
هم اختیار پکښې څای نلری»
«ماتیریالستان ادعا کوی چه د
اجتماعی او سیاسی عامل آراء
او عقائد یعنی روحی عوامل نه دی
بلکه مختصرا مادی او اقتصادی
ضروریات دي چه د تمدن په
تو او مظاهرو کښې حتی په آراء
معتقداتو او ادبیاتو، اخلاق او
روحیاتو کښې اثر او نفوذ لری»
«دنیا او دهغې ټول محتویات د
خپل تکامل په لیاره کښې همېشه
په تغیر کښې دی څرنګه چه هر
کمی تغیر په یو ناڅاپی کیفی
تغیر باندې منتج کېږی نو دغه
یو ناڅاپی کیفی تغییر عبارت دی
له حادثې نه چه د تدریجی کمی
تغیر په اثر منځ ته راغلې ده.
مثلاً کله چه د دوه مخالفو
جنسو له یوه ځای کېدو نه نطفه
جوړیږی دغه نطفه په انسانانو
کښې وروسته له ۱۱ میاشتو او
په نورو حیوانانو کښې د مختلفو
زمانو د تېریدو نه وروسته په
تدریج او ورځ په ورځ تکامل
کوی او د خپل تکامل په
وروستۍ لحظه کښې ناڅاپه
او په شدت سره راوځی. په
همدی ډول له هګی نه د چرګوری
راوتل او یا د ابو ځو ښېدل
چه مثال ئی د مخه په یو بل بحث
کښې ذکر شو او دا سی نور
.... دغه پرنسیب چه هر کمی
تدریجی تغیر په یو ناڅاپی
کیفی تغیر باندی بدلیږی چه
دغه ناڅاپی کیفی تغیر عبارت
دې له حادثی نه په بشری جوامعو
کښې داسې مثال لری.
«په ۱۷۸۹ ه کال کښې د فرانسی
لوی انقلاب دهغه تضاد نتیجه
وه چه د فرانسې د لرغونی او
زاړه فیوډالیزم او د بواژوازی
(منځنۍ طبقه) د جنبش ترمخ
پېښه شوی وه،
د فرانسی ملوك الطوائفان
پداسې حال کښې چه د خپل
پخوانی موقعیت په ساتلو قادر
نه ؤ، خو بیا هم نه حاضر ېدل
چه د خپلو پلرو او نیکو نو له
مزایاو او افتخاراتو نه تیرشی
او له بلې خوا د فرانسی ځوانه
بواژوازی او د کارګرو او
بزګرانو ناراضی ډلو خپل
اقتصادی او سیاسی منافع
د فیوډالیزم او د موجوده اوضاع
په نړېدو کښې لیدل؛ دغه
بحرانی حالت چه د فرانسی په
اقتصادی او اجتماعی سازمان
کښې د یو لړ تدریجی تحولاتو
او تغیراتو نتیجه وه بالاخره
په یو کیفی تغیر یعنی د ۱۷۸۹
کال په انقلاب باندی منتهی
شوه او د فیوډالیزم اصول ئې *

زما دنیا

دښاغلی محمد اکمل احمدزی ترجمه'

درڼاڅخه بیره

هغه وخت چه ښونځی ته تلمه ښه زړور ځوان وم، ځکه تر هغه پوری چه لمر به په لویدو شو نود هیڅ شی څخه می ویره نه درلوده، خو هر کله چه د شپی تیاره به په غر ونو او ځنګلو نو راټیټه شوه، نو بی اختیاره به دهغو اروا ګانو له ډاره، چه په کیسو او نکلو کښی تل دهغو یادونه کېده ډیر زیات ډاریدم، او کله به می چه ستر ګی بټی کړې نو، په یوې چټکۍ سره به راویش شوم، او زما هغه باتی شوی جرئت او زړور توب به هم له مینځه ولاړ.

خو نن ټول شیان زما په روح کښې بل شان شوی ښکاری اوس هغه وخت خپل جرئت له لاسه ور کوم، چه د سحر لمر په راختو شی. اوس هغه شی چه ما ډاروی او زما ځان د ډار له سړونه ریږدوی، هغه د شپی تیاره نده بلکه هغه، د روځی رڼا او د ژوند غوغا ده، هر کله چه شپه شی خپل ځان د توری تیاری په نقاب کښې پټوم او ښه آرا میږم، په تیاره کښې خپل جرئت د یو عالم خیالاتو سره خلاص او بی له قیده بولم لوی سیند او سوزیدونکی اور، د مبارزې د پاره راغواړم، که شاهین دوریځو په زړونو کښې الوزم. اظطراب او ډار له زړه څخه باسم دا تر کوم وخت پوری؟، تر هغه پوری چه بیا د سهار سپیدی وچوی.

هو! اوس نو که د پاته کیدلو وړ کوم اثر هم له ما نه پاتیږی هغه به د تیاری نه پیدا شوی وی، آه له هغه ساعته: چه توره تیاره هم د ملګرتیا او هم کاری لاس راڅخه واخلی او ما یواځی پریږدی!!—

---

*په فرانسه کښې له پښو وغورزاوه په همدې ډول چه د ۱۹۱۷ کال په اکتوبر کښې د تزاری روسی لوی انقلاب هم د دغو تضادونو مولود ؤ. یعنی د سرمایه دارانو او حاکمه اقلیت او دوګړو تر منځ یوه لویه خلاوه بالاخره د سرمایه داری په سقوط او د سوشلیزم په استقرار منتج او منتهی شوه، .

داؤ د حادثاتو دولې او څنګه پیښېدلو په متعلق د مختلفو پوهانو آرا، او نظریات چه پورته په مجمل او مختصر ډول ذکر شول. اوس به راشو داسوالونه چه: جهان او کائنات څنګه اداره کېږی؟ او کوم سیر تعقیبوی؟ د مدنیتونو د انحطاط او انکشاف عوامل کوم دی؟ او نوابغ او فائدین او شخصیتونه ولې او څنګه منځ ته راځی؟ او د دنیا په چارو کښې څومره تأثیر لری؟ او داسې نور مسایل تر بحیث لاندی ونیسو. (نور بیا)

د شیطان ورور

خو د پرستو عزاز ېل سره یو کوردی — په بد جهل د شیطان سکنی ور وردی

په تزویر ئې د ریا خرقه اغوستې — که د پاسه مخ ئې سپین استر ئې تور دی

په لباس د مسکینانو خوی آخلی — او سرپوش ئې پر خالی طبق نسکوردی

د یقین د یوه ئې نه ده ځلیدلې — که د سرسترګی ئې رڼی په زړه کوردی

د پدر کرده ئې پر ېښو وه عاصی شه — په دالوی نسب د کبر پر خره سپوردی

نا خلف پسر حرام بللی بویه — کورد پلار ویرانه وی مین پرموردی

د نیکانو له بدانو ..... (۱) شی — لا دوړاندی دم برا چوی منکوردی

خو د نمایو جهان ونیو په تګیو — هیڅ رښتیا راویل نشی دورچوردی

بخیلان به له ایمانه سره نه ځی — هغه بد عمل د تبر ساعت پیغوردی

آزموده به له فساده منعه نشی — صبر حلم پر پاکانو باندی پوردی

ای (واصله) خپل عزت له خدایه غواړه

ملك ئې ونیو د شیطان د څوکی زوردی

(د واصل له قلمی اثارو څخه)

---

(۱) دا توری ونه لوست شو

مترجم ښاغلی راز محمد ویش

له سروش څخه

انار کلی

د ننني لاهور ددار الانشاء تر شا د د وائـرو د ودانۍ په احـاطه کښې د تیږ و یوه لو یه او ښکلی و دانې پرته ده، دغه ودانی دداسې یوې پیمخې او مکېزی رقاصې قبر دی چه په خپل وخـت کښې ئـی دجلال الدین اکبر دتخت پښې خوځولې-ددې قبر دبندۍ نوم «انار کلی» یا دانار گـل دی چه اوس اوس ورنه دپاڼو دفتر جوړ دی - دمغلو ددغی دورې تاریخی اسناد دانار کـلی ددغه عجیب داستان پامخکښې چوپ اوغلی دی یعنی د دغې پښې ذکر بیخی دهغه وخت په تاریخ کښې نه دی راغلی .

جهانگیر د مغل اکبرزوی په خپله خو دنوشتـه سوانـح کښې ددغې جنۍ په باب چه هغې خوارې دده دعشق په لار کښې خپل خوږ ځان ځار کړ هم څه نه دی ویلې، خو په لاهور کښې دغـی یو دمر مرو ښکلی او سینگ رلی قبر اوس هم شته چه په هغه دسلیم (۱) نوم کښل شوی دی. وائی چه دانار کـلی دقبر دباسه دجهانگیر مغل له خوا دغه شعر کښل شویدی .

تاقیامت گویم شکر کردگار خویشرا
آه گر من باز بینم روی یار خویشرا

«مجنون سلیم اکبر»

ویل کیږی چه دهغه وخت په تـاریخـې اسنا د و کښې دانار کلی دواقعیت کوم بحث نشته او نه د جهانگیر په سوانح کښې په دې باب څه موندل کیږی، نو ځکه ویل کیږی چه دا به فرضی او خیالی وی (۲)

د عشق او محبت د دغه عجیب داستان ذکر لومړی پـلا یـو انگلیسی سیاح چه «ولیم فنج» نو ماند پخپل «د شرق الهند جزائرو ته تگ» نومی کتاب کښې کړی دی . ددغه انگلیس ددې تذکر علت هم داسې دی چه ده په ۱۶۱۱ میلادی کښې دسیاحت په نیت لاهور ته راغی په دغه ځای کښې ئې دغه ښکلی قبر چه د «راوی» درود چپې ډډی ته تر ودانۍ لاندې ؤ په نظر ورغی، ددې په هکله دپوښتنې گرو یږنې نه پس د خلکو له خولی نه داسې پوه شو چه گویا دجلال الدین اکبر مغلی امپراتور په امر د غلته یوه جنۍ چه انار کـلی نومیږی ژوندۍ په گور کښې ایښودل شوی ده، په دې علت چه داجنۍ د مغـلو دشاهی دربار باز نگره وه او په څه چل او توگه ئې دسلطنت دولیعهد شهزاده سلیم «جهانگیر» زړه د خپلو زلفو په دام کښې ښکیل کړی ؤ او غوښته ئی چه د هغه ملگه شی .

(۱) جهانگیر مغل پخوا له دې چه امپراتور شی «سلیم» نوماند او پلار په دغه نامه باله، نو ځکه دا یقین کیدای شی چه «جهانگیر ددغی جنۍ عاشق او هغه ئې معشوقه وه .

(۲) دا دمترجم دخیال نقص دی ځکه چه ددغه قبر کتیبه په دغه باب هر رازوهم وخیال له منځه وړی او دغه شان ټولې خبرې ردوی ځکه چه تاریخ دیـوې پېښې واقعیت تـه دمحکو کاتو له مخې پوره اعتنالری او نو روته خیالی او جعلی وائی .

«فنج» په دې باب کښې دزیاتو معلوماتو دلاس ته راوړلو په باب پوره هڅه کړیده څو په پای کښې څرګنده شوه چه د دغې وینځې اصلي نوم «نادره بیګم» او د کابل د والي له خوا دامپراتور اکبر د دورې په وخت په کابل کښې هغه ته هدیه شوېده، هر کله چه دا جنۍ ډېره ښکلي وه نو «اکبر پاچا» د شرف النساء په نوم وبلله او له ډېره نازه ئې «انار کلي» یعنې دانار ګل ورته ویل.

انار کلي ډېره هوښیاره او زیر که جنۍ وه سر بیره په دې چه ډېر خوږ او زړه وړونکي آواز ئې درلود د ناز او نڅا میرمن هم وه لکه چه په لنډه موده کښې ئې د ساز ورقص فنونه په پوره مهارت زده او د پاچا په خوشګزرانۍ کښې ئې صرف کړه. کله به چه جلال الدین اکبر د ورځنۍ کار نه فارغ شو دغې عشو ګرې او د ناز میرمنې به د هغه د دمه کیدو او خوشالتیا له پاره ښه ساعت نڅا او ګډا کوله» څو بالاخر شهزاده سلیم د هغې د زلفو په جال کښې ګیر شو او دغې د خیال او ناز میرمنې هم په هغه باندې زړه بایلو د دې دواړو مینانو به د شپې له مخې د «راوي» درود په غاړه د قلا په باغ کښې تل سره لیدل کتل کول او د عشق او مینې ګلان به ئې یوله بله تو لول. د خدای کړه وه چه یوه شپه یوې بلې وینځې (۱) چه د دغه شهزاده د مېنې سوا د ئې په زړه کښې څپې وهلې دغه دواړه عاشقان په دغه باغ کښې غاړه په غاړه ولیدل، د کینې او بغض اور ئې په سینه کښې شغلي وکړې خو چه بله چاره ئې ونه مونده نا څا په ئې یاد ته راغله چه ابوالفضل صدراعظم خو له شهزاده سره مخلف دی او تل دا کوشش کوي چه امپراتور له هغه نه خوا بدې کړې نو راځه دغه ئې د خبرو لو وخت دې وینځه راغله او ابوالفضل ئې د شهزاده او انار کلي له یارانې نه خبر کړ ابوالفضل هغې ته دستور ور کړ چه ته به دستي ورپسې څار کوې او اطلاعات ئې ماته راوړه.

یوه ورځ کله چه انار کلي دامپراتور د تفریح او ساعت تیرې په وخت د قلاء د ننه د آئینو په سالون کښې نڅل په دې وخت کښې ابوالفضل دامپراتور په خوا کښې ناست ؤ، نو پاچا ته ئې د خبرو په ترځ کښې د شهزاده او رقاصې د عشق او محبت اشارې او مکیزونه وغندل او د دې خبرې د ثبوت له امله ئې له امپراتور نه وغوښتل چه د سالون په شیشو کښې د دوې د مینې او علاقې څیرې وګورې امپراتور په آئینو کښې دغه د عشق او محبت تبادله ولیده ده له ډېره جوشه فریاد وکړ چه دغه وینځه ونیسي او په یوه توره تیاره خونه کښې ئې بندي کړي (۲) د دربار د ختمیدو نه پس

(۱) د مغلو شهزادګان او پاچاهان ټول د زهد او عدل په پردو کښې دغسې فضائع او رسوائي لرې ودې شي چه دغې وینځې ته ئې هم کله د یارانې په نظر کتلې وې او کوم وخت به ئې علاقه تر منځه ټینګه شوې وي، نو ځکه د انتقام اور را پورته شو او د ده سر ئې د اکبر پاچا وزیر ابوالفضل ته یوړ.

(۲) دالا یوه بله ګناه وه چه په دغه سپینه ږیره او د زهد او تقوه په لویه دعوا یوه جنۍ «د ملت ناموس» د خپل عیش د پاره د تحفې په صورت له خپلو مقبوضاتو نه ځانله را بلله او د خپل عیش وعشرت وسیله ئې ګرځوله چه حتې له ډېره افراطه زوې او پلار ور باندې نه جوړېدل او چه نور ئې د لاسه څه ونه شول هغه جنۍ خواره ئې ژوندۍ په ګور ننه ایسته او د بداخلاقۍ نه ئې په دغسې ناوړه صورت قتل هم وکړ. «مترجم»

ملکی کوشش وکړ چه دامپراتور غوصه سره کړی اوددې نه پس ئی هیله ښکاره کړه چه دغه بد مرغه وینځه خوشې کړې خوور پسې ددغې ملکې له خولې نه دا خبره هم ووتله چه گنې شهزاده هغې ته ویلې دې چه دانار کلی په خوشې کولو کښې له هغه سره مرسته او کومك وکړې. پاچا ته په دې وروستې خبره سخت قار ورغی اوسم دلاسه ئی امرو کړ چه انار کلی دې ژوندۍ په گور کړې شې.

په دغی پېښې پورې مربوط یو بل روایت وائې: پخواله دې چه دغه سالون ته انار کلی درقص دپاره دابوالفضل دسسیه کارو ملگرو دابوالفضل په امر هغی ته دمستۍ اوبیخدۍ دار وو کړی ؤ- نو هر کله چه دغو دار و غلبه ورباندې وکړه دې جنۍ امپراتور اود دربار حاضرینو تول له یاده وایسته اودنڅا په حال دپتنگ پشان دشهزاده غاړې ته ورو اویده وائې چه هغه وخت چه انار کلی په زندان کښې د شهزاده دخپل یوملگری په مرسته زندان چی ته بډې ور کړی او خواهش ئې ورنه وکړ چه دغه نازنینه ور خوشی کړی، خوبدی ځای کښې بیا یوې بلې وینځی د ده پلان ورخراب کړ اوصدر اعظم ته ئې خبر یوؤړ. کله چه شهزاده د خپلې نقشې دعملی کولو له پاره زندان ته ننؤت اوغوښتل ئې چه انار کلی له ځان سره وتښتوی پاچا پدغه وخت کښې ځان ور ورساوه اوهماغه ځای کښې ئې امر وکړ چه د دغې وینځی چار چار بیر دخښتو دیوال جوړ کړی شی اودغه واقعه د فنج دقول په اعتبار په ۱۵۹۸ میلادی کښې پېښه شویده وروسته تر هغه سلیم دابوالفضل سره داسې کلکه کینه پیدا کړه چه یوه ورځ له اگرې نه راستنیده دلارې په منځ کښې ئې وواژه اودخپلې معشوقی انتقام ئې ورنه واخیست که څه هم دشهزاده دغه کار جلاالدین اکبر سخت متاثر کړ خو بیا ئې هم خپل زوی ته څه ونه ویل.

شهزادگۍ

دیوبل روایت له مخې انار کلی رقاصه وینځه نه بلکه دافغانی حاکمانو دکورنۍ نه یوه شهزادگۍ وه- وائې چه اکبر پاچا یو پښتون د کابل په حکومت مقرر کړ او وروسته سره د خپل زوی «سلیم» کابل ته سیل دپاره راغی اوشرف النساء دهغه ځای دحاکم دغه ښکلې لور ولیده او خپل زوی سلیم ته ئې په نکاح کړه. سلیم چه ددغه پښتنی له ښائست نه په زړه ښا دؤ هغه ئې دانار کلی په نوم وبلله. دغه جنۍ په ۱۵۹۸ میلادی کښې دلاهور په په ښار کښې د اولاد په مرض له دنیا نه سفر وکړ. سلیم د هغې د عشق او محبت په پاس پهغی باندې ښه قبرودان کړ (۱)

درباری جنۍ

یوبل راوی وائی چه دغه ښکلی قبر د سلیم د «نکاح ښکلی ارتیتې» صاحب جمالې دی چه شهزاده بې دامپراتور له

---

(۱) دغه وروستنی روایت ځکه درست نه دی چه که دا خبره رښتیا وی نو په کارؤ چه د هغه په سوانح او تاریخی اسنادو کښې هم دغسی پېښې څه نه څه ذکر شوی وی. دا خبره داسې معلومیږی چه دغه داستان جوړونکی غوښتل چه دخلکو په زړو کښې کښېنوی چه اول خود اجنۍ رقاصه نه ده اوکه رقاصه هم وی نو د شهزاده سلیم او دغی رقاصی په منځ کښې کومه سوء علاقه نه وه موجوده بلکه هغه جنۍ چه په انار کلی مشهوره ده اصلاً ډیره اعلی نسبه شهزادگۍ او د شهزاده نکاح ښکلی ارتینه وه.

اجازې ورسره نکاح کړې وه.
وائی صاحب جماله دا کبر پاچا
دیوه ډیر مقتدر در باری سړی
لوروه سلیم یوه ورځ په کوم ځای
کښې دتېریدو په وخت ولیده او
زړه ئې له گو گل نه پسی وؤت.
خو هر کله چه اکبر پاچا ددغی
جنۍ د پلار له خولې ددغې
پېښی په جریان خبر شو نو زړه
نازړه ئی دغه کار ته غاړه کښېښوده
او دشهزاد گۍ نوم ئی ورو باښه.
هغه وخت چه سلیم دا کبر پاچا
مرگ نه بسی پاچا شو نو دغه
صاحب جماله ئی د ملکه عالیه
سلطانه صاحب جمال، په نامه
وبلله چه وروسته داولاد په مرض
مړه شوه او په دغه ځای کښی
ښخه ده.

دغه راوی اولیکوال هم دامپراتور
په کورنۍ کښې ددغه شان
سرې تاریخی پېښې ددغه علت
ذکر چه ولې دتاریخ له پاڼو نه
په دغه اهمیت حذف شو یدی نه
دې کړی. او نه وائی چه شهزاده
یا امپراتور «صاحب جماله» دناز
له مخې انار کلی بلله مگر دلته
یوه پوښتنه زړه ته راځی چه که
دا رښتیاوی چه هغه په دغه نامه
نه ده مشهوره نو بیا دغه قبر څرنگه
دهغې گڼی. (۱)

- دانارو باغ -

اوس راځو دتاریخ دیوه عالم
دلټې او څېړنې نتیجې ته چه
هغه دغه شان فرضې داستانونو
باندې باور نلری او وائی چه
داټول دمغلو ددښمنانو دخیال
محصول دې چه غوښته ئې دوې
ددنیا په تاریخ کښی عیاش ظالمان
بې عاطفی او بداخلاقه وښئی.
دغه دتاریخ عالم دانار کلی وجود
ددې وجهې نه دروغ بولې چه
دهغه وخت په تاریخې اسنادو
کښې دانار کلی ذکر بیخې نشته
دی وائې هغه وخت دلاهور دښار
نه سویل خوا ته چه اوس دانار کلی
په نامه دسوداگرۍ مشهور
مرکز دی دانار کلی په نامه یادیده
دغه مورخ دغه مطلب د سفینة
«الاولیاء» له کتاب نه چه مصنف
ئې شهزاده دارا شکوه دشاه جهان
مشرزوی دې اقتباس کړې دې
خو دارا شکوه نه وائې چه په دغه
باغ کښی پخواله دې دانارو ونې
او بوټې وو. دغه مصنف په خپله
مصنفه کښې هم دانار کلی دسویلې
برخی په خوا دیوې ښکلې مقبرې
ذکر کړیدی خو په دغه باب ئې
چه دا قبر دچا دی هیڅ نه دې
ویلې. (۲) خو دغه اوږد او مرموز
شانته سکوت دمغلو په تاریخ
کښی دانار کلی په باب په ښکاره
ډول څرگندوې چه ارومرو
ددغسې یوې پېښی وقوع منځ
ته راغلی ده چه اول اکبر او
وروسته دهغه خیلخائې کوشش
کړیدی چه پرده ئې په مخ وغوړوی

(۱) دغه راوی اولیکوال صریحاً
په حقیقت پرده اچولی او د مغلو
ترتا تیرلاندی راغلی دی - دده
داروایت فقط دهغه وقتو احساساتو
له مخی دی چه غواړی دانگلیس مورخ
«فنچ» په ستر گولیدلی حال باندی
خاوری واچوی - او اکبر پاچا له دغسی
فضیحت اور سوائی نه بچ کړی
دمغلو په تاریخ کښی له دی نه هم
فجیع واقعات شته لکه چه اورنگ
زیب دیوی دمی دساتلو فجیع افسانه
لری چه اوس هم سړی دهغه دزهد
او تقوا خبری ورسره د مقایسی قابل
نه بولی.

(۲) ددارا شکوه خبری خو په دغه
باب هیڅکله تاریخی اعتبار نلری
ځکه چه هغه هم مغول و، او دجهانگیر
ځوځات نو ځکه ئی ددغی خبرې واقعیت
ته تغیرور کړی او غواړی چه دخپلی
کورنۍ پدغه اخلاقی کمزورۍ
باندې پرده واچوی. (مترجم)

مخصوصاً داسې را ښکاروي چه
په دغه ډرام کښې جهان کیرد
خپل رول دلوبولو داظهارنه په څه
وجه ځان غلې نیولې دی دی دخپل
پلار یکی یوزوی ؤ . او دخپل
کوچنیوالې نه دنازو نعمت په
لمن کښې لوې شوی ـ تاریخ
مونږ ته راښئي چه دځوانۍ په
لومړیو وختو کښې دی له خپل
پلار امپراتور سره هم خوابدې
شویدی او څه تصادم ئې سره راغلې
و نو ځکه قیاس او خیال کېدای
شی چه امپراتور دغې واقعې ته
په جدې نظر کتل خو بیائې هم
نه دی غوښتی چه رسوا شی امکان
لرې چه اکبر پاچا به خپلی مورخینو ته
امر ور کړې وی چه ددغې
ماجرا نه صرف نظر وکړې ـ خو
سیلم په عکس ددې غوښتل چه په
یوه بله پرده کښې خپله دغه دغم
او اندیښنې واقعه څلور ډانګه
عالم کښې خوره کړی ـ لکه چه
هغه دخپلې مینې دمرمرو دسینګار
شوی سپین تابوت فرمائش ان
اګرې ته ور کړ او دخپلې مینې
په قبرئې کښېښود . او دمقبرې
له چار چاپیر ئې دیوال
ودان کړ . ګویا قصداً
دخپل پلار دغوسې پارو لو

له امله هغه فارسي شعر چه ددغه
قبر په کتیبه کښل شویدې خپل
نوم سلیم مجنون ثبت کړ . نو
ځکه داسوال منځ ته راځی چه
ولې هغه د خپل ژوند په خود
نوشته سوانح کښې دغه څیز نه
دې ذکر کړې . ددې له پاره مهم
علت شته او هغه دادې چه ده
وروسته له انار کلې نه دنورجهان
نومی ښځی سره علاقه پیدا کړه
او دهغې ښائست او مکیزئې زړه
په منګول کښې یوؤړ چه ښائې
دا به ئې وروستۍ معشوقه وې
لکه چه دهغه وخت یو لیکوال
وائی چه ده له دغې وروستۍ
معشوقې (نور جهان) سره
دومره عشق او مینه لرله چه تل
به نورجهان په شاهی دربار کښې
دپردې شاته کښېناسته او له
هغه ځای نه به ئې خپل لاس د
جهانګیر په اوږه ایښو ده خو چه
لاس به ئې دهغه له اوږې نه لرې
کړ امپراتور به سمدسې له
دربار نه را اوچت شو ـ لکه چه
پخپله وائې : « من سلطنت خود
را بجام شراب و یک سیخ کباب
نور جهان فروختم » نو ددې نه
داخبره پوره راجوته کیږی چه
امپراتور دداسې لیونې عشق په
اثر غوښتل چه د خپل عشق او
او معشوقې پخوانی جریان بیخې

له زړه نه وکاږې ، خو سره د
دې ئې هم بیادانه دی کړې چه
دانار کلی قبر وران کړی او
بیخی دهغې له یادونه زړه صبر
کړی ځکه چه ښائې که دا کار
ئې کړې وای نو دې به په عشق
افراطې او له حد نه و تونکی
معرفی شوی و ، په دی اساس
ویل کیدای شی چه ددغه علت
په بنائې دهغې قبر وران نکړ
ددې داستان تردید څه ګټه
نلری ځکه خلک وائې « تا نباشد
چیز کی مردم نگوید چیز ها »
داډول داستانونه هم ارومرو د
تاریخ په شان په څه اساس باندې
بناوی چه دروغ بلل ئې دیوستر
تولواک د بې ګناهۍ دثبوت
لپاره بېځایه ایسې .
دتاج محل په شان متین او
کلک یادګار او دا د عجیبو
مرمرو ښکلی قبر په لاهور کښې
پخپله ددې اعلان کوی چه دغه
شان امپراتورانو او دنازو نعم
ولیعهد او شهزادګانو په سینو
کښې دغوښو زړونه پرانه و ، چه
د غلامانو او وینځو په بندی
څېر و به همیش بلو سیدل .
یا ته په ۳ پشتۍ کښې

استونکی ښاغلي محمد عالم (خواتی) وردګ

راغلی لیك

استاذ الفت صاحب بریالی اوسی!

په لوست اولیك یوڅه پوهیږم مګر په ښوونځي کښې مې زده کړه نه ده کړی.

دهغه وخت غمخور په مازړه سوی دی، دجومات ملا صاحب زه په سبك کښېنولی یم او د پنج کتاب او ګلستان کتابو په څه لیکلو او یا لوستلو کې په ما احسان کړی دی

ما دهر علم د کتاب پاڼې اړولی، دصرف میر او نحو میر ګردانو، دشپې خوب نه نه یم پری اینښې خو دیوه نه می هم لازمه ګټه نده اخیستی.

تقریباً خپل تیر عمر عبث تیر شوی بولم ځکه چه علمی او دڅه زده کړې تنده می نه ده ماته شوې زه اوس نه داستاد نه، نه دعلم نه، نه له ځان څخه ګیله کوم خو ځان په تعلیم کښې داساسی اصولو له فیضه محروم ګنم.

دا نه وایم چه زما دځوانۍ بهار همداؤ چه تیر شو بلکه له خدای نه شکر کوم چه اوس اوس دعمل او قوت په ځانګو کښې ځنګیدلی یم او په مرکزی سیلو کښې دبرق بو کاریګر یم په دی فن کښې زما استعداد ماته دآیندی ښه زیری راکوی او علاقه مې دې ته مجبور دی چه ددغه هنر لمن پری نږدم.

زه دفن مصروفیت او مینې دعلم او ادب له رڼا ته نه یم بې نیازه کړی اخبارونه او مجلې لولم او په دې باره کښې ترځان هوښیار و خلکو سره مشوره کوم.

یوه ورځ مې یوه چاته وویل: «ماته داسې کتاب راوښیه چه دهغه په لوستلو می هم لیك ښه شی او هم په څه پوه شم او په اخلاقو کښې مرسته راسره وکړی».

ده دډیر فکر نه وروسته وویل: دا ګلستان په ترجمه ووایه، نعتونه ئی یاد کړه او معنی ته ئی فکر کوه.

ما دده خبره ومنله او بیا می ګلستان شروع کړ که څه هم زما دغه کار بی ګټی نه ؤ خو لا تر اوسه دهغه کتاب په ډیر وځایو کښې دلفظ او معنی ترمنځ بند پاته یم

دپښتو ټولنې دعلمی خدمتو څخه تشکر کوم چه زما غوندی خلکو بلکه ترما پورته کسانو دپاره ئی داسی کتابونه خپاره کړی دی چه له مونږ سره زمونږ په ژبه علمی او ادبی خوږی خبری کوی او اوس چه داڅو دعرض کرښی لیکم دا فکر راسره شته دی چه زما موجوده سویه دهغې ستری موسسې داحسان مرهونه ده.

د(پښتو قصو) کتاب داسی کتاب ؤ چه د پښتو په لیکلو ئی قادر کړی شوم د (پښتو نولۍ) کتاب نور هم زه په خپل افغانیت وویاړلم د (غوره اشعار) کتاب زما فکر داسی وروزلو چه د هغه په لوستلو ما نور د څه پوهیدو احتیاج نه حس کاوه د قناعت می دا حال دی چه د لیلی او مجنون د پښتو فلم په لیدو مې د نامی فلم نه توبه وابستله او تصمیم مې ونیو چه بل فلم به نه کورم چه تل زما سره د خوږی ژبی پښتو معنی دار فلم خوندنه هیریږی مګر د غوره نثرو) کتاب زما حرص بیا زیات کړی او اوس د دغسی شیانو ډیره آرزو کوم یوه ورځ زه په خپل وولس کې د یو خپلوان په کاله کښی میلمه وم په چای راوړلو کښې څه ځنډ پیښ شو، په دی وخت کښې څوک نه ؤ چه د حال احوال پوښتنو سلسله مې نو زه هم ورسره اوږده کړی وای مجبوراً د خونی څلورو دیوالو ته می کتل هلته په تاخچه کښې می دری کتابونه ولیدل زما د حرص تقاضا وه چه هغو ته مې لاس عځاوه کتل می چه په زړو اوپیوندی وقایو کښی د رحمان بابا دیوان او د رشید بیان کتابونه ؤ په دریم کتاب می چه ستر ګی ولګیدې هغه د (غوره اشعار) کتاب ؤ

په همدی وخت کښی د کور میرمن راغله او ناڅاپه می پوښتنه ور څخه وکړه :-

دا کتابونه د چا دی ؟ »

دی وویل: زما!

ما وویل: ته ئی څه کوی؟

ځواب ئې راکړ:- زه په یوه کښی لمونځ او اودس زده کوم بل می د مینی په راز پوه کوی او دریم را ته د ژوند د رسونه را کوی .

ورته می ویل: « بس! ستا د پاره کفایت کوی ، په دې وخت کښې چای راغلی او څرنګه چه زه دوی ته ګران میلمه وم ضرور به د چای سره په هغه کور کښی نور پیدا کید ونکی د خوراک ښه ښه شیان ؤ مګر ټولو دومره خوندنه درلود لکه د هغی میرمنې یوې خبرې !

د دغې پیښی په اثر زه نور هم له پښتو ټولنی څخه شکر ګذار شوم چه ښه خدمتونه ئی کړی دی. او په دی هم خوشاله شوی یم چه خدمت ئې بی ځایه نه دی تللی مګر که په چا بده نه لګیږی د یوه کوچنی انتقاد ګوته د پښتو ټولنی یوه کار ته نیسم هغه دا چه د (غوره نثرونه) کتاب ئې باید په عټو غټو نورو چاپ کړی وای او دغه کار به ما غوندې زلمیانو او هغی میرمنی شانته ښځو او پیغلو سره زیاته مرسته کړی وای او هم به ئی ډیر پښتانه د ساده او خوږی انشا په خوند یوه کړی وای او د هغو چا د پاره چه مکتب ئی نه دی لوستی د استاد په لږ استشاره هغه شیان ورښودلی وای چه په زیاتو مطالعو کم ورته حاصلیږی .

ځواب

گرانه عزیزه !

ستا په لیک کښې څو شیه ددې باعث و چه باید به مجله کښې ئې نشر کړو.

یو داچه ستا انشاء او دلیکلو طرز ډېر خوږو او پښتو دې داسې لیکلی وه لکه چه یو ښه لیکوال او ادیب ئې لیکی چه هغه له یوه ښه استعداد سره ډېره موده دلیکلو مشق هم کړی وی حال داچه تا په کومه مطبوعاتی اداره کښې څه کار نه دی کړی او که څوک داوسنیو ادباء او لیکوالو تذکره لیکلی له تا نه به ناخبره وی او دا به ورته نه وی معلومه چه په گوشته کښې هم ځوانان شته. او دا رمونږ هیله او امید زیاتوی چه په پښتنو کښې به ډېر دغسی ښه استعدادونه موجود وی چه ځان به ئې نه وی ښودلی او مونږ به ئې داثار وله مخی نه پیژنو.

بله داچه ستا لیک داخبره ښه څرگنده وی چه پښتو اثار او دپښتو تولنې نشرات بې اثره نه دی بلکه پښتنی میرمنی هم دپښتو له نوو او زړو کتابو څخه ښه استفاده کړی او په پښتنو کښې داسی میرمنی شته چه په اوسنیو عصری ښوونځیو کښې ئې څه نه دی لوستی مگر دخپلی فطری پوهې او دخصوصی مطالعاتو په رڼا کښې دیوه کتاب خلاصه په یوه جمله کښې په ډېر ښه شان اداکولې شی چه دغه راز کتاب پیژندنه به د ډېرو لږو خلقو په برخه رسیدلی وی.

استا انتقاد هم داحق درلود چه په مجله کښې ئې نشر کړو او دا یو ډېر اساسی تکی دی چه باید دپښتو کتابونو په چاپولو کښې دطباعت او صحافت مراعات ډېر زیات وشی او په داسی ډول چاپ شی چه لوستل ئې ډېر اسانه وی مگر ځینې مشکلات موجود دی چه زمونږ خپرونې ئې دغه راز کړې چه لوستل ئې گران غوندې معلومیږی هغه مشکلات دادی چه دپښتو غټ توری هماغه دی چه دځینو عنوانو دپاره ئې په جراید و کښې وینی او نور داسی غټ توری په مطبعه کښې نشته چه د کتاب د متن دپاره مناسب وی او مطبعه وکړی شی چه ځینې کتابونه په غټو تورو چاپ کاندی.

په خطاط باندی دیوه کتاب لیکل او په افسیټ باندی چاپول هم یو داسی کار دی چه مونږ پری نشو موفق کېدلی ځکه چه په مطبعه کښې یو ښه خطاط ښاغلی عزالدین خان دی چه مونږ د ښاغلی بینوا دپریشانه افکار په لیکلو کښې ورته مراجعه وکړه چه هغه شعرونه ؤ او ډېر لږ هم ؤ مگر ده ددغه کار دپاره فرصت نه درلود او مونږ مجبور شوو چه په حروفی مطبعه کې ئې چاپ کړو نو په دغه وجه به لطفاً مونږ معذور او مجبورو گڼی سره له دې ستاسو دغه تذکر دخوښی باعث دی او هیله لرو چه بې اثره نه دی او ووسته تر دی به دامکان په صورت کښې دطباعت او صحافت مسئلې ته توجه وشی (دمجلې څانگه)

توصیه

په قهر واوډېر.

ویل ئې سړی بالکل دخبرې نه دی یا داچه ماله ننګ ښکاری چه خبره ور سره وکړم په همدغه وخت کښې مادی وپوښته چه څه عیب لری ستا رتلی او نتلی!

دقهر خاوند راته وویل: «احمق دی مګر خورا زیات ځکه زه دده سره دخبرو کولو ضرورت نه وینم.

ما ورته وویل: اشنا! ته دی پېښ نې چه څوک دی؟ ده بیا تکرار کړله «احمق او خو را بې حده»

ما وویل: اشنا جواب ولی نه را کوی زه دهمدی احمق (ستا په قول) په خصوص کښې درځنی پوښتنه کوم مګر ته دی نه راښئی!

اشنا ویل: «علاوه پر حماقت بل لقب دده دپاره موزون نه ګڼم.»

ما وویل شته- ګوره په قهر کیږه مه!

اشنا: ته ئې راوښیه!

ما: داسړی!! داسړی ستا د عقل پلار.

اشنا: دهمدې خبرې په اورېدلو مسکی شو اووئې ویل:

که زما دژوند پلاروی هم زما ورسره مینه نشته»

ما وویل: ته بد ځینې وړی بلکه پرتا ګران دی.

اشنا په ډېر حیرت سره: - «څرنګه!!

ما: دا ډول چه ته بې له ده څخه ځانته عاقل نه شی ویلای

یا داچه ته خو ځانته عاقل وائې مګر ستا دعقل دزیادت نسبت له چاسره دی؟

اشنا: «نو د همدغه احمق سره!!»

ما- په دافلاطون سره - ما وبخښه!

اشنا- خدای دی نکړی که دافلاطون سره شی نو هلته به زما مثال د..... وی

ده وویل. «اشنا نوره ستا توصیه د منلو وړ بولم.

ګوره زه آینده دده ډېر قدر کوم»

ما: «دی مه ممنونه کوه د خپلې عقل مندۍ ددعوې قدر کوی»

اشنا: «بلائی بلا!!!»

(ژواک)

محمد انور «تاجر مومند»

ملي بڼې

زما ملي احساسات راپارېدلي، نو غواړم چه د «ملي بڼې» ترعنوان لاندې څه وليکم آو ګرانو لوستونکو تې وړاندې کړم ګرانو عزيزانو ملي بڼې خوزښته ډېرې دې، مګر زه دلته هغه راوړم چه زما زده دې هغه دادې:

ملي اداب ملي تهذيب ملي عادات ملي رسومات ملي روايات ملي عنعنات ملي شئونات ملي تفکرات ملي تخيلات ملي وحدت ملي پت ملي قوت ملي عظمت ملي شوکت ملي درنښت ملي ثقافت ملي شجاعت ملي عزت ملي غيرت ملي حکومت ملي اقتدار ملي غرور ملي کلتور ملي انصاف ملي اخلاق ملي ناموس ملي عدل ملي دفاع ملي نظام ملي انتظام ملي قانون ملي ژبه ملي اغوستنه ملي پالڼه ملي روزنه ملي ښېګڼه ملي يوهنه ملي ناسته ملي ولاړه ملي خواله ماي ګټه ملي دودونه (دستورونه) ملي آوازونه ملي سرودونه ملي اتڼونه ملي ننګونه ملي دردونه «غمونه» ملي توره ملي مړانه ملي پر ېکړه ملي آزادي ملي ښادي ملي قرباني ملي ټولڼي ملي جرګې اوداسې نور داټول د ملي بڼې بللې شي، او هر ملت اولس کام دغه شيان بايد ولري ځکه چه ملیت يا اولسيت او کام ولې يه همدغو شيانو سره بېلېږي او پېژاندل کېږي، او هر ملت چه خپل داصفات ونه لري هغه ته ملت يا اولس نشي ويل کېدلې او داسې بې خپلو ملي بڼو خلك به تل دبل اولس تر اثر او حکم نه لاندي او ابدي ژوند نشي مندلي اولکه بې موره وري دهرې مېږې سرلاندې باسې او کله دمېږې ورته پام شي، نو بيا يې په ګېډه ګېډه کښې ترهغه وهي چه څوئې ټول خوړلې راونه باسې.

ښه دي عزيزانو رازي دبڼو په لحاظ الوتونکو مرغانو کښې وغږېږو لکه چه وائي:

هر مرغه په خپلو بڼو ښه ښکارېږي * بازله بازه سره زې زرکه له زرکو

هر مرغه په خپلو ډلو پسې ګرځي * زاغ له زاغانو سره ځي چرګه دچرګو سره

ددې دواړو مصرعو رښتيا والي هر چا ته ښکاره دي، او دا داوي پاك خداي تعالى حکمت دې چه هرې ډلې مرغانو ته ئې بېل رنګ بېل خوې بېل تلن بېل الوتن او بېل آوازونه بېل پرورش داولادونو ئې ددوې دپاره ځاي ټاکلې دې چه انسانان ئې هم په دغه نسبتونو پېژني آو سره ئې يو تر بله بېله ولې شي، آو مرغان هيڅ کله يو دبل په بڼه او رفتار نشي کېدلې، او نه د بلې ډلې په خوې رفتار کولې شي لکه چه متل دي کارګه دزرکې رفتار کاوه خپل هم ترې هېرشه، رښتيا خبره ده چه څوك خپل رفتار پرېدي او دبل رفتار کوي مسلماً دبل

رفتار ځنګه چه ښائی هغسې زده نشي کړې، او په دغه پښتو زده کولو کښې خپل هم تری داسی هېرشوی وي چه بیائی زده کولی هم نشی او په دوه کښې به اریان ولاړوي نه بی بیا څوك په خپله ډله کښی منې اونه بی به بله کښې پرېدي.

دغسې دځنګلو ځناور وخواته پامونه وګرځوئ چه دزمری رنګ خوی نګ څه رازدی او دګیدړ اودلپوه رنګ خوی ځنګه دی او دپړانګ او دپیزو رنګ خوی ځنګه دی او دمیلو، او دهوسی نګ خوی ځنګه دی اودغرڅه، او داوزي رنګ وپښتان ځنګه دی اودمېږي، اودغوایانو څېره ځنګه ده او دمېښو اودپیل رنګ اوخوی څه دی اوداوښ، او دانومان ورنه په څه بېل بېل تا کلی شوی دایه دي چه او پېژندل شي- دارنګه اوی ځښتن تعالادبشر دپېژاندلو دپاره نوم ادم کښېود او بیائی څانګی (شعبې) تري جوړې کړی اودائی و فرمایل چه دا کار ددې دپاره شوی دی چه «لیتعارفو» چه ناسوسره پوتربله اوپېژنئ نوباید هرڅوك دلته راسره اومنی چه ملتونه او کامونه په ملي صفا توسره بېلېږي اوپېژندل کېږي البته ځینې کسان به مانه داسوال وکړی چه مرغان اونور مخلوك اصلی رنګ او خوی ذاتی دي چه خداي ورکړاي مګر بشر دزمانو سره مخامخ دی نو زماڅواب هغه دي چه مامخکښې اوویل چه هر ملت په خپلو ملی صفاتو مجهز نه وی هغه به زمانه هم اروی ضرور به لکه بې موره وری بلې مېږی پسې منډې وهی او که هرملت پـه دغه ملی پنو کلک اورمجهز وي بیقین دي چه هیڅ پـولوی استعماری اواستثماری قدرت ئی هم رنګ نشی کړزولې. او ددې خبرې اثبات زما دا دی چه ایا پښتانه چه دملیت په پنو کلک ؤزه ددی دغوه کولی شم چه به هیچ کام دنړی کښې به دملیت خبره نه وه دملیت پـه معنی بوهېدل چه پښتنو نه پاک خدای دغه ملی احساسات ورښو ولې او ورکړی ؤد هخامنشیانه ئې راونیسه دمغلو اوانګلیسانو تروخته پـوري کورونه ئی وسول شو، ښارونه ئی رنګ شول دچنګیز قتل عام پرې تېر شو، اما دملیت پـه زور آ و شؤنا تو تراوسه پوري پښتانه هماغسې یاته دی، نه ساسیان شول نه رومیان شول نه یونانیان شول نه مقدونیان شول نه مغلیان شول او نه افشاریان شول او نه عرب شول کـه څه مقدس اسلام ئې په پوره باسی قبول کړی مګر عرب نشوه او نه انګلیسان شول او دا ملیت او ملي بنې که ددوی وي را نلو نکی زمانه ئې هم بې پښتو نه بل ملت ونه بولی، دغه راز دهندوستان هندوان راواخله چه څومره پردی کامونو پری پـه سوونو پـه سوونو کا اونه حکومتونه کړی دی او ددوی همغه هندوکې لنګ او خام تا ئی خولی په سرتن په دویمه ټه پـا به دبزرګو دولتونو په صف کښې ودر پېږی او حتی هغه

روسومات چه دپر دیو استعماری خلکونه ورته پاتی شوی دی. اوس ئی په پوره. کلکه ایراده سره بډې وهلی دی او دتمثیل او سینمائی فلمو نو په واسطه غواړی چه خپل تللی ملی شئونات بېرته راژوندی کړی، او پردی تقالید خپل اولس ته بدښکاره آوتري پرهېز اوډډه وکړی.

او که چیترته پوهه او مدنیت دبل چا پېښې کول یا په بازار کښې سر تور ګرځېدل او یا شپوخولۍ په سر کول او یا ورانه پوری پښې لوڅه ول وی، نو هندوستانیانو ولې تراوسه لنګونه په پښو کښې او خامتائی خولی اغوستی او ښځوئی ساری لباس په ځان او دسره سندرخالونه ئی وهلی دی. نه خبر علم (پوهه) یا مدنیت زخمت او ډېر تکلیف غواړی یوازی په تقلید څوک نه مدنې او پوه کېږی، دلته ما ته دیو بوه (عالم) خواجه خبره رایاده شوه خواجه صاحب ډېر ښه عالم واو په بغلان دسنګر خیلو کلی کښې ئې طالبانو ته درس ورکاوه یوه ورځ یو کس دده دپاره میلمستیا کړی وه، دی چه ملمستیا ته ولاړ، وروسته دډوډۍ څخه ئی دخپلی پېغلې لور دستمال هم خواجه صاحبه ته وړاندی کړ، ده ورته وویل چه دالور دی ماته په څه را کوی دلور خاوند ورته وویل چه زه ستا په علم باندی مین شوی یم ځکه دالور تا ته در کوم، خواجه صاحب ورته وویل چه که ته وائی په دا یوه لور باندی ځه دخواجه غوندې عالم شم داخودی یوه لور ماته را کوی چه په زرګونو لور ګانې ولری او علماؤ ته ئی ورکړی نه نشی عالم کېدلې علم زده کړه پنځه ویشت کاله زحمت غواړی تکلیف غواړی که دادی په زړه کښې وی چه ما باندی دیوی لور په نسبت دعلم قید زدی نو ځه دی داشرط نشم منلې دخدای په امان. ښه نو تاسو ورته پام وکړی هر کله چه دعلم زده کړه په یوه لور ورکولو هم نشی حاصلیدی، نو په سر لوڅې او په شپو خولۍ آود بل دپېښو (تقلید) کولو. په واسطه خو هېڅ کله نشې حاصلیدلې، ابله ورځ زه د کابل نوی هوټل ته دغرمې له خواورغلم له ما نه ترمخ یو کس بل ناست وه سر سر تور ستر ګۍ (عینکی) په ستر ګو شپو خولۍ ورته په، مېزا ښې نو ماته لازم وچه دادب او احترام له امله ورته سلام ووا یم مګر هر څه مې چه ورته پام وکړ چه دا شخص به کابلی وی که خارجی، او د کوم ملت به وی چه زه اقلاً دده په شئوناتو ورسره وژغېږم خو تنها دومره مې ورته وویل چه تاسو ښه یاست او ده راته بلې بلې وویل او بس.

داټول پوروړی به ستاسو دغه احسان او مرسته هېڅکله نه هېروی او تل به ستاسی دبقا او سعادت دپاره دعا گانی کوی »

(حاجی آغا) او نور سوداگر په دې خبره ډېر سره وغوړېدل او ددوی له بڼو څخه ښکاره کېدله چه دملك څخه په پټه خوله» نشکر کوی او دده په دې فکر باندی آفرین وائي .

یو سوداگر چه تور بخن رنگ ئې درلود ، او خورا ښه دریشی ئی کړې وه ملك مخاطب کړ او په پر ېکړ والفاظو ئی ورته وویل :

« ته خو یواځی د کوچیانو ملك نه ئی ، زمونږ دستر گو تورهم ئی . ستا خبره خو ، هیڅوك په ځمکه نه اچوی ، منوئی . »

یو بل سوداگر را زغ کړه !

« پدی شرط چه پخیله ملك زمونږ ضامن شی ، دهر چا په سند باندی دې تضمین مهر ولگوی . »

دپوونده وو له ډلې نه یوزغ را پورته شو :

« بیامو دسوداگرو په ژامو کښی ور کوی ! ټول کال کښته ؤ پورته زغلو یو کلو ښته وړی په څه خوار بو په لاس راوړو هیله مووی چه په هغو د کاله تن پټ کړو ، د کمکیانو خیټې ورباندی پټې ، او د کاله دیو څو شپو « شومه » ئی کړو ، زمونږ داڅو مېږی خو « کاریز - پټی - د کان او جائداددی » هغه دالیوان په چمو کښی راڅخه یوسی نومونږ څه و کړو . یه ! یه ! له سره ئی پیسې نه اخلو « دپاتی پیسو به ئی پر کال وړی ور کړو او بس . »

ملك په یوه زیږه اولوړه لهجه ورته وویل چه :

«د مسلمانانو زړونه مه سره اخله ! دا خبرې دښه سړی نه دی .

دغه سوداگر چه له تاسره دومره سوهان وکړی چه تر کاله پوری خپلې پیسې اووړی درپرېږدی نو بیا مونږ ؤ تاسې د گیلې څه حق لرو — ؟ یه اورونو لحاظ ؤ پاس خوښه شی دی . نه شرمېږیء چه دغه سپین کالی د آب خلك تاسو ته په دې رغو کښې ناست دی . ته خو وگوره څومره زړه سو انده دی . که بل څوک وای دوخته به ئی په بندی خانو کښې وراسته کړی واست. خو دا ددوی نرم زړه . لو یه حوصله ، او زړه سوای دی چه تاسو له سر گردانیو او وهلو ټکولو نه خلاص یاست . نور څه مه وایاست » د لږ څه ځنډ نه وروسته بیا ملك یو ته وویل چه :

«مونډ یه اورشه هغه پوری کلی ته یو لیك اولوست والاسړی او یاملا راوله چه داخطونه او سندونه ولیکی. کلی نور نشی میشته کېدلای، او باید سباوختی کډې بار شی. دا مېلمانه خواران هم په زرها وکا رونه لری او په خپله مخه به درومی.»

(حاجی آغا) پداسې حال کښې چه تورنسوار ئی په اور غوی کښې وا چول او یو نسواری ډوله دستمال ئی دنیالی له څنډی څخه راو کېښ او ځان ئی په یو اړخ په بل اړخ کړ، وویل:

«په مونږ کښې ښه دلیك اولوست خاوندان شته چه خوراښه حجتونه کاږی، په تیره بیا ځینی داسې کسان په مونږ کښې موجود دی چه پخوائی لوی لوی ماموریتو نه درلودل، خطونه به ولیکو. دهر یوه گوته به پرولگوو، ددوی تر گوتو

لاندی څرنګه چه وویل شول ستا (ملك صاحب) لاس لیك او دسخط ضروری دی،
ځکه چه مونږ خوله دې دومره ولس سره بیا په غاړه کښې نشو لوېدلای»
ملك ومسل او وروئی حاجی آغا ته ترغوږ ورتېره کړه چه:
«دفیصلې برخه به مې د ضمانت له برخې څخه جلاوی. یعنی دضمانت لونګۍ به ئی
جلا. او دا چه فیصله ئی ددوی په ګټه وکړه دهغه (لاس سره) به بیل وی هغه ورته
سر کښته او پورته کړ او دده مطالبه ئی تائید کړه.»
وروسته له هغه ملك په جدی او تاوکړی ږغ حاضرینو ته وویل چه:
«لاس پورته کړئی او دعاو کړئی چه خدای مونږ ته توفیق را کړی چه دغه فیصله
عملی او سرته ورسوو، او دحقدارانو حق ورادا کړو. که څوك پدې کښې ما تی
ګوډې کوی او خاشی په کښې ماتوی نو هغه دې وپوهېږی چه والله هډو کی خو
به ئی په زندانو کښې وراسته شی. بیا نو هغه وخت له ما او دغو سپین کالیو ورڼو څخه
څوك ګیله نشی کولای او ګناه او مظلمه به ئی پخپله غاړه وی...»
له پوره وړو څخه، هېچا څه ونه ویل، بیا ملك (حاجی آغا) ته مخ راو ګرځاوه او
«ورته ئی وویل چه: «پټه خوله او چوپ والی په رضامندۍ او خوښه باندی دلالت
کوی او اقرار بلل ګېږی. امرور کړئی چه حجتونه ولیکی. او هم خلکو ته دنوی کال
دپاره دوړیو پیسی باید ور کړی شی، که پیسې دلته درسره نه وی خیر دی پروا
نه لری خو یوه یوه رقعه هرچا ته ور کړی کوم وخت چه کډې درشی او له ښاره
څخه تېرېږی دهغو رقعو په موجب به هرچا ته هر څوك خپلې پیسې پیشکی
ور کړی
دحجتو دلیکلو او رقعو دور کولو په پای کښې ملك حاضر وپوونده وو ته په یوه

آمرانه لهجه اوداحسان اچولو له مخې وويل چه :

«زه ستاسو ضامن شوم اوله دې جنجال څخه مې خلاص کړ است، يوشی بايد تينګ په غوږ کښی ونيسیء، او هغه دادی چه پر قول به نه خېژیء دروغ دايمان زيان دی، په دی دنيا او په هغه دنيا به ضرر ونه ووينی ء. خپلې وړی به آن په هغه ګړی چه سکول موو کړ دغوسو دا ګرو نه ور کوی ء خوداهم بايد اوس لاووايم چه د دغو وړيو (بچګی) يعنی کميشن زما دی چه سر بېره د(ملکی) په پيسو باندی هغه به هم را کوی ء.»

ملك او ځينو سپين ږيرو خلکو دغرمې ډوډی له سودا ګرو سره وخوړله چه پسونه ئی حلال کړی وو او په خورا برم دميلې په توګه ډوډی ورته پخېدله او بيا سره رخصت شول.

* * *

(بنګ) سهار وختی خپل بوده ګان او رشوته وشړل او پخپله دسودا ګرو او پور وړودی جرګې ته راغی او په داسې حال کښی چه ملائی په تورواښکی تړلې وه پرخپل لرګی زنه تکيه کړې او ددې جريا ناتوسيل ئې کاوه ده هيڅکله داسې سړی نه وو ليدلی، ددوی پاکو او سپينو کالو او سرو قالينو او نياليو، دی حيران کړی ؤ. ددوی پاکو او ښويو مخونو هم دی په حيرت کښی اچولی ؤ، ده فکر کاوه چه داد دوی پرمغزی باندی خيری ولی نشته او کالی ئی ولی پينه نه لری.

په تيره بيا (بنګ) ددوی ډوډی خورا حيران کړ او، هيڅ تصور ئی نشو کولای چه انسانان دې داډول غوړه او مفصله ډوډی خوری ! ددې جرګی

دخلکو خبرو او حرکاتو ته بیسده تللی ؤ . په دغه وخت کښی (کاڼی) ور باندی ږغ کړ چه : «اوښان دې څه کړل ؟»

مازیګر لمر په غره کښی جګ شو او پخپلو پلو شوئی په اسمان باندی کوم غټ غټ سپین اوره چه ووسره واړول ، تا به ویل دانګار خورا لوئی لوئی کوټی په آسمان را ځړیږی او سړی به بیریده (چه فکر به ئی نه ؤ) چه اوس دا اور را باندی ونه لویږی. لږ څه ترغونی چه شوه (بنګ) بوده ګان دخپلې کېږدۍ مخې ته راوستل او هغه ئی د کېږدۍ شاؤ خوا ته چو کړل.

د کاله ټول اعضا هم خوشحاله دی او هم خوابدی، په دې چه له دستی او سمدلاسه جنجال څخه خلاص شول خوشحاله دی، او په دې چه په راتلونکی کال به بیا سوداګرو ته وړۍ په خورا ټیټ نرخ ور کوی خوابدی دی . په تیره بیاد (کاڼی مورچه خورا وسواسی او سودائې ده. دماښام له لمانځه نه وروسته د کېږدۍ نه د باندی ناسته ده او په زوره ښېرا کوی . کله څه وائې او کله څه ؟ کله وائی چه: «ای خدایه ! ته ددې ظالمانو غاښونه زما دلالی دغوښو څخه لیری او وکاږی خدایه ! ته ئی مخ پرته کړی. خدایه! ته خو زما سړی وبخښې او اجرونه او عوضونه ورته ور کړې. هغه خوار کی خود همدې سوداګرو په فقره کښی سکاروی وواهه او له بندی خانی څخه ئی ناروغه راووست چه بیا پسې مړ شو . خدایه ! ته دده بر کتونه زما دلالی په برخه کړې او دغسی زاره ترکی مرګ ورنه کړې .»

(کاڼی) چه په یوه کوچنۍ بوجۍ کښی اوربشې ځایولې ورږغ ئی کړل «ادې!» راځه، بس دی، لېونۍ لېونۍ مه غږیږه ! ستائی ددې دنیا په کاروڅه ، خپله دعا وکړه، راولاړه شه.

د کېږدۍ په خوله کښې نغری دی او په هغه کښې خورا ډیر اور بل شوی دی او ښه ډیر انګار پکښې پروت دی . د نغری په یوه څنډه کښې تبخی (تبۍ) باندی دی او د (کاڼی) ماینه ور باندی (پاستی) پخوی . د (کاڼی) مور چه دلمانځه راولاړه شوه او نغری ته راغله کسېناستله ، نوئې نږور ته وویل چه:

«نجلۍ ته دا (پاستی) ولی پخوې، په دې خو څوك نه مړیږې هر څو نه چه ور کړې بیا هم وږی وی ، لوبې ، لوبې پنډی پتېرې به دې پراچولی چه د هر چا ښه پرې شوی وای.»

نږ ورچه کوم ځواب ورنه کړ دا لا په قهر شوه او په وچ او جدی ږغ ئی ورته وویلی چه : «که دی اوړه دخپل پلار له کوره وای نو هله خو به دې دادومره (پاستی) نه په پخولای او داسې (کا کونه) او یا (پتیری) به دی پخولای چه دچاغاښ هم نه په جګیدلای زما دزوی دې وهلوتکو لو او بندونو ته نه ګورې ؟ دده وچو او چاو دلو شونډا نو ته خو نظر وکړه ، د سره کافر به لارړه پرو سوځی .) (بنګ) ورته وویل چه :

«ادې ! نن غم مه جوړوه نن دخوشحالی ځای دی ! که ئی (کاڼی) نن بندیخانې ته در څخه بیولای وای نو به هم ناسته وې اوس چه دې بېر ته په روغ صورت درته راغلی او ، اوس دې له څنګه په نغری باندی در سره ناست دی هم ته خوشحاله نه یې .)

« یه زویه ! خوشحاله یم ، خدای دې دا ګړۍ او دا ساعت په غم نه را بدلوی» ګوته ئی لمده کړه او ځمکی ته ئی وروړه او بیائی ژبی او غوږ وته ور تیره کړه ! یعنی خاوره ئی وڅکله چه په دی حال کبر او ناشکری ونه شی .

نو په داسې حال کښې چه خپل ټکری ئی په سرباندی راو څکاوه او یولاس ئی اورته دتودوالی دپاره ورو غزاوه وویل :

«څنګه وکړم (بنګه) زویه ! همدا کاڼی) دی چه کېږدی مې پری ولاړه ده . هغه بل زوی خومی کمکی دی دترپ اوخرپ اوجهانداری نه دی ، لږ څه باو له شانته هم دی ، ګوندی چه لوی شی ښه شی دمور د زړه . . . .»

په دې وخت کښی (کاڼی) دخپلې مور خبره غو څه کړه او په یوه آرامه او طبیعی لهجه ئی (بنګ) ته وویل چه :

«ته څه فیصله کوی؟ آیا له مونږ سره ریګ ته ځې او که په ښار کښی پاتی کیږی. که له مونږ سره ځی هم مې یوه کړه ، او که یه بله درومی هم راته ووایه چه که مې له وسه وشی یو بل هلك پیدا کړم . »

لومړی ترهغه چه بنګ ځواب ور کړی د(کاڼی) مور خپل زوی ته وویل:

« ښار لاچیری دی ؟ دری څلور زورور مزلونه لاورته پاتی دی . ترهغه ځای پوری چه رسیږو ګوندی (بنګ) هم خپل زړه وپوښتی او ځانته یوه لاره غوره کړی . دی هم مور لری ، داسې وچی پوښتنی مه ځنی کوه . خپلې خوښې اومخی ته ئی پریږده »

« ادې ! ته خوتل دخبری په منځ کښې رالو یږی . ته خووائی چه زه په دنیا کارو کښې کار نه لرم ، پریږده چه زه د(بنګ) له زړه څخه لومړی لا خبر شم.»

مور ئی ژرغونکی شوه خو(بنګ) دوی ته نور دمباحثې او دطبیعت دخړوالی موقع ورنه کړه او(کاڼی) ته ئی وویل چه:

ماخولا په کور کښې زړه کښې داخبره جوړه کړی وه چه په ښار کښې به پا تېږم اوهلته به دځان دپاره خواری مزدوری پیدا کوم چه په پسرلی کښې دمور او خویندو دپاره یوڅه پوښ و کړم »

«رښتیا دپسرلی نوم دې واخست، په پسرلی بیا زمونږ سره ولاړ شه دو نه درو ند کار به نه درباندی کړو. صرف (اوله) به راسره شړې.»

(بنګ) په پزه کښې ورته وویل:

«پسرلی لاخورا لیرې دی. ګورو تر هغه وقت پورې ورځو او که یه، دپسرلی خبرې به په پسرلی کوو، یعنی هغه وخت او هغه ګړۍ به سره غږ بږو.»

(بنګ) پداسې حال کښې چه په تبخی پسې ئی ترخی پسې کولی او د (کاڼی) دماینې دپاستو پخولو سیل ئی کاوه د (کاڼی) مورته په خورا خوند او حیرت سره دورځی واقعات بیانول، او دهر سودا ګرد قوارې او خبرو په باب کښې ئی هغی ته تفصیلات ورکول.

د (کاڼی) خویندی دواړه لګیا دی. په کاسه کښې پاستې وړوی، او بله ئی په هر کاره کښې له ژی څخه غوړی را کاږی، کله نا کله (بنګ) ته داور په رڼا کښې و ګوری او بیا ژر ستر ګی کښته واچوی، او دا عمل څو ځلی تکرار کړی.

کوم وخت چه د پونده وو کډې ښار ته را نږدې شوې نو (بنګ) خپله بنۍ سره سمه کړه او عزم ئی و کړ چه سبا هغه وخت چه ددوی کډې ور سره بار کړی نو په خپله به رخصت واخلی او ښار ته به ورو ګرځی.

ماښام بیا پر نغری سره ناست دی. د (کاڼی) تندې تر یو غندی ښکاره کېږی مور ئی ورته وویل چه:

«هلکه! نن بیا ولی بړسك ښکاره کېږی، بیادې به کڼوری کښی چادر تو کړی دی. (بنګ) هم نن شپه راسره دی. باید خوشحاله ئی ترځان تېر کړی، خدای دې بر کتونه ور کړی دا (۷-۸) شپې چه دی له مونږ سره شوی دی او ښان په نس ماړه شوی دی او حتی دهر اوښ بڼه تر پخوا ښه شوې ده سهار وختی به ئی په پلو وهم او په خدای به ئی سپارم.»

«ادې! که می دزړه پوښتې زما طبیعت هم پدغه خراب دی چه سبا به (بنګ) له مونږ څخه جلا کېږی، مونږ کوم بل څوك هم ندی پیدا کړی، بدئی آموخته کړو، پخوا موهر کار پخپله کاوه، اوس د کار ډېره برخه بنګ په اوږو اخستې ده.»

بیائی ماینی ته وویې چه:

«مېرمنی! ته خو نن ښه کاسه تیاره کړه. بنګ به بیا له مونږ څخه خوله وهی پوونده ښه خلك ندی هر ډول چه یو همدغه یو، پخوا هم دغسی وو، اوس هم دغه ډول یو. (پښ نه یو ټکولی) خدای دې وکړی چه په پسرلی هم له مونږ سره یوځای شی. هغه وخت به زمونږ ژوندو ګوری اوپوه به شی، سره له دې چه پوونده څومره سر ګردانه دی بیا هم هر کال څو آرامې او خوږی شپې هم لری.»

* * *

(بنګ) کله ښار ته نه ؤتللی، تل چه له کوره په مسافرۍ او کار پسې تللی دی په یو بله منطقه کښی په یو کلی کښی به دیو بډای سړی مزدور شو چه ژمی به ئی تیر کړنو سمدلاسه به خپل کور ته روان شو. داځلی دومره لوی ښار ګوری چه خلك پکښی تر له اوږی، بګۍ دوری، دوری تر له

جاروزی کوڅه له خلکو ډکه وی، خو هیڅوك په هیچا پوری اړه نه لری. (بنګ) دې خبرې تر هر څه ډیر حیران کړی ؤ چه دغه خلك ولی روغبړ نه سره کوی او ولی یو بل ته سلام نه سره اچوی، او یا دا چه څرنګه په کوم شی نه سره خوری؟

له یو چا څخه ئی پوښتنه وکړه چه: «دا محصل غوندی سړی ولی د بازار په منځ کښی ولاړ دی او لکه لیونی کله لاس دوری وغزوی او کله ئی دوری، کور نه لری؟ داد لاس غزولو پیښی ولی کوی؟»

هغه ورته وویل چه:

«دې ته د ترافیکو پولیس وائی. دا بګی او موټران ترله تیر وی نه ئی پریږدی چه هغه بو پربل کښی توی شی»

دې خبرې ته د (بنګ) سدله سره ووت چه دغه محصل (د ترافیکو پولیس) ته ولی څوك نیالی نه راوړی، او ولی دی دغو خلکو ته ښکنځل نه کوی او دوی نه وهی. محصل او داسې ښه سړیتوب چه په چادې غرض نلری.

(بنګ) بیله دې چه وپوهیږی چیرته د رومی بلا را دې روان دی، یو د کاندار ورباندې زغ کړه: «او، بنی» د ممخ ورواړا وه، او هغه ورته وویل چه:

«په (بنی) کښی دې څه شی را بار کړی دی؟ خرڅوې ئی او که نه؟»

ده په ډیره معصومانه لهجه ورته وویل چه: (زاړه کالی پکښی دی، ستا دښې نه را معلومیږی. خو که ئی رانیسې زه هم لاس نه پرنیسم.»

«یه پاسنیه! زاړه کالی څه کوم. ما چه ویل (شنی) دې له کومه ځایه راوړی دی. تیرشه! تیرشه! زاړه کالی دې دورې در ګرزوه. دمورد.....!

(بنګ) په دې خبره چه دمورد.... ئی ورته وویل ډیر خپه شو او بیرته ورته را وګرزیده او ورته ئی وویل چه:

«دا ښکنځل دي ولی راته وکړل. خو سپین پښتون یم، ډیر لوی تیری دي را باندی وکړ. گوره! سپی خوله خو څوك چاته نه پریکوی»

«تیرشه، تیرشه! پریږده دا منطق او فلسفه دي دمورد... پرته کړه مخ دي! که نه وی والله دا گرده کوزه او به خو به در باندی وشیندم.»

«وینی! بیا دي سپی خوله پریکړه. ولی! خو آخر تاهم کږه لنگی تړلی ده او سپین کالی دي اغوستی دی. خپله خوله دي په واك نه ده.»

په دغه وخت کښی دري څلور نور کسان پر راټول شول. یو سړی (بنگ) سو که پوری واهه او دکاندار ته ئی وویل چه:

«نه ئي گوری چه صحرائی دی، او نوی له غرو او رغو څخه راشیوه شوی دی؟ په ټوکو او زمونږ ؤستاسی په اصطلاح گانو څه پوهیږی؟» ځه تیرشه پاسنی کاکا! خیر دي. ځه خیر یوسی. جنجال مه جوړوی، غریب سړی ئی، که پولیس درخبر شو بیایی دي او خوشی په خوشی به دي سر گردانه کړی. ځه پخپلي خواری پسي دي ځه! هله! خیر یوسی- گام پرمخ واخله.»

(بنگ) په بوه بله کوڅه را کښیووت. گوری چه یو ښه لمر څریکی دی او دده په شان نور ډیر (بنی والا) سره ناست دی. ځوك دپړتا که په سرو نحؤ کښی سپیږی غواړی - څوك سرزمو نځوی، څوك له یښو څخه ازغی کاږی ځینو بیا لاسونه سره ور کړی دی او په ناستو زور سره ښکاره کوی کله نا کله د خندا ترکهاری شي او کله بیا د (واخ - واخ مړ دي کړم، زغ پورته شی).

ددي ډلي یوي خواته یو هلك ناست دی او تر مخ ئی یو څو سړي د شپو شپو

ډوډی په یو خیرن او غوړ یجن د ستر خوان کښی ورته پرتی دی او پرله پسې دانا رې وهی. «هله د کور پستې ډوډی دی - هله ! وخوری ء خو ار ؤ غریبه ، ارزانه دې ؛ ارزانه ! »

بلی خواته بوبل زنګی ناست دی اووائی : «هله ! تود سوړ سک دی تود ،» (پنګ) په زړه کښې ری وواهه چه تر سوړ سک نه غلمېنه (غنمینه) ډوډی ښه ده. که څه هم سوړ سک ارزانه دی خو بیاهم (د کور پستی ډوډی) ډیری پری ښی دی ، او باید په هغه ځان موړ کړم. ورسته به ئی کور وچه څه کیږی ، په دغه وخت کښې ئی دخولی دخوند ناړی تېری کړې او مخامخ ډوډی والا ته ورغی او د دوو افغا نیو دوې ډوډی ئی ځنی را و نیولې دواړه ډوډی ئی په ښی تخرګ کښی نغښتی سره کښیښو ولې او کین لاس ئی ورو اچاوه او دد واړو ډوډ یو سرونه ئی په یوه پلا ځنی پری کړل او په خوله ئی ننه ایستل. بیا په داسی حال کښې چه خوله ئی ورو ، ورو ښورید له دیو سړی خواته چه دواړه لاسونه ئی پر تندی چتری کړی وو ، او یوا ځی ناست ؤ ، ور نېر شو په ډکه خوله ئې ورته وویل :

« سلامالیکم ! »

« مالیکم ! ستړی مه شی . »

« کور دی ودان ! خیر یو سې . »

ناست سړی خپل یولاس له تندی څخه لیری کړ او په هغه ئی ده نه د کښیناستلو اشاره و کړه او ورته ئې و ویل :

« دلته کښینه ! ته هم دازمونږ دخوا معلومیږی ! »

«هو ! زه دغزنی دعلاقی یم - اوته د کوم ځای یې ؟»

«زه هم د غزنی نه دور پورته سیمی یم .»

(بنګ) له خپل تخرګ څخه ډوډۍ راواېستله اوخپل دغه ملګری ته ئی هم ست وسلاو کړه ، هغه په داسی حال کښ چه ډوډۍ ئی راماتوله ورته وویل :

«لکه چه نوی ښارته راغلی یې ؟ که دی داسی غنمینې ډوډۍ خوړلی په قرآن که به غران خوتر ملا کورته غوته یوسی . دلته خو سړی ګزاره کوی اوله خپل تغر سره سمی پښی غزوی .»

(بنګ) ورته وویل چه :

«څه وکړو وروره ! مونږ چه خوار یو ددغه خپل نس له لاسه خوار یو . ته خوښه رائی خو نفس خوراظالم دې ، سړی ترحد تېروې .»

و روسته له یو څه خنډنه بنګ بیاورته وویل :

«ښه ! داسی می یوه کړه . روره ! څه خواری ، مزدوری مونده کېږی او که ته خپله (بنۍ) لاپسی وخوړو اوتش تور لاسونه به کوروته ځو ؟»

«څه به درته ووایم ګله ! هر شی په نصیب و قسمت پوری اړه لری زه دا پنځلس شپی کېږی چه دی دیار ته راشیره شوی یم . کله نا کله ختی مونده کېږی . مزدوری ئی ښه ده ، دورځی (۹ - ۱۰) افغانۍ ورکوی خو کور ئی خراب کړی په دې ګرانۍ اوقیمتۍ !.....هېڅ شې ته لاس نه رسېږی . هغه بله ورځ مومیله وکړه اوپه سوړسک موځانونه مړول غوښتل . خوچه رښتیا درته ووایم ددرېو افغانیو سوړسک چه می وخوړنو خوله می ونیو له که نه وی موړنه وم ملګریه ! هو ! دروغ به ولی درته وایم - موړنه وم !»

بیائې یوه بله گوله ورماته کړه او وې ویل:

«ته خوز نکی ښکاره کیږی، لا تر اوسه پوری د دنیا سړی تودې دربانـدی ندی تیری شوی ..... له ځان سره به پام کړی. بی ځایه خرڅونه به نه کوې خو که مې زړه پوښتې زمونږ هم ځان په واک کښی نه وی. تل موشی ته نه خوله دریږی او نه لاس که نه وی ځینی ښه پوه خلک دلته شته چه تل دما ښام په مهال دباندی کلیو ته ځان باسی او یا په وچوتو تا نو خپله گذاره کوی. ولی که داسې ونه کړی نو د عیال په خوله کښی به څه ور اچوی.»

(بنگ) ور ځنی د نوم پوښتنه وکړه: هغه ور ته وویل چه زما نوم خاورې» (دوران).

دخاوری مه شې- دورانه وروره! څه به درته وایم. په همدغه کوچنی اولږ عمر کښی را باندی د آدم ؤ درخانی قصې ترې شوی دی. دومره زحمتو نه او تکلیفونه مې گاللی دی چه ډېر خلک به ئی ونشی گاللی. خو دومره خبره ده چه خدای پاک بنیادم ته طاقت ور کوی ندی دی اورېدلې چه خلک وائی: «انسان تر گل نازک او د کانی نه سخت دی.» که دغسی نه وای نو باید په دې مصیبتو او خواریو کښی سړی او به شوی وای.»

دوی دا خبرې او اترې سره کولې چه یو سړی راغی چه څو کسه مزدوران دختو دپاره په کار لری. ټول ناست خلک په یوه پلا کو اورولاړ شول، هرچا کوښښ کاوه چه لومړی ځان ور ورسوی، او خپل ځان ورسره چهره کړی.

دغه سړې له هغی جملې نه پنځه تنه مزدوران چه ور نژدې ووخوښ کړل او له ځانه سره ئی بوتلل، په دغو پنځو تنو کښې هغه سړی هم ؤ

چه د(بنګ) سره ئی خبرې کولې .هغه د کار په ترتیب پوهیده ،څرنګ چه ئی د مزدورانو غوښتونکی ولید، ورپه هوا شو او ځان ئی دهغه ترژامنې لاندی ودراوه .(بنګ) دمزدورانو دې ناڅاپی ناآرامۍ اولاس ؤپښی وهلو ته حیران شو .هر څومره چه په هغه ملګری بسې ګوری هغه موندلای نشی .

(بنګ پوښتنه وکړه چه: «دلته دادومره خواران مزدوران ولی سره راټول وی، او دڅه دپاره دې لمرڅیکی ته دا دومره خلك سره ناست وی؟» یو بل مزدور ورته په ځواب کښی وویل چه: «داخودمزدورانو یو ډول منډیی غوندی ده .دلته هغه ټول کسان سره را ټولېږی چه په خوارۍ، غریبۍ پسې له کوره راوتلی وی او غواړی چه دغه ډول کارونه .» او مزدورۍ ځان ته پیدا کړی ، او پدې سیمه کښی چه د هر چا مزدور پکار شی هغه دلته راځی اوله دغه ځای نه دخپل احتیاج په اندازه نفر بیائی ترلسو بجو پوری(بنګ) پدغه منډیې کښی ناست ؤ او پدې انتظار کښی ؤ چه اوس به ئی څوك کار ته بیائی ،خو په پای کښی یو بل مزدور ورته وویل چه «تراوسه پوری چاد کار دپاره بوتللې پس له دې ددې چانس او برابری ډېره لږه ده چه څوك دې بوځی .ځکه چه کار دورځی له سره شروع کېږی، نوښه درته داده چه ولاړشې ،او په کومې بلې غریبۍ بسې وګرځېږی، داسې ونه شی چه دلته څه په لاس درنه شی اوله بلې غریبۍ نه هم ووځې.»

(بنګ) فکرو کړ چه ولاړشی په ښاؤ خوا کلیو کښی وګوری اوهلته د کار موندلو دپاره لاس اوپښې ووهی، ما سپښین پدر یو بجوئی یو څه کار مونده کړ، هغه کار داؤ چه دانګورو یو څو جزوې به کاږی ده دغه کار ورځنی په اجاره

ه اخست ' دباغ څښتن ورته وویل چه « (یوم) به له خپله ځانه راوړي. ځکه په جوو کښلو کښې دا قاعده او اصول دی چه (یوم) به هم بخپله مزدور له ځانه سره راوړی ' هر کله چه (بنګ) یوم پیدا کولی نشو نو طبعاً دا کار ورځنی پاتی شو ' دباغ څښتن ورته وویل چه: « که کوم شی راته په (ګروی) کښېږدی نوزه به له یوچا څخه یوم در مونده کړم. » خوده بیله هغې زړې (بنی) او زړو کالیو څخه بل څه نه در لودل.

(بنګ) وروسته تر دې چه شپه ئی په هغو کلیر کښې تېره کړه ' سهار وختی بېر ته ښار ته راغی ' لومړی د مزدورانو (منډیی) ته ورغی. هلته ئی خپل بازار بیا هغسی سوړ ولېد. بیا راغی ګمرک ته ری ئی وواهه چه ګوندی هلته به د ځینو موټرانو د بارولو او خالی کولو کار مونده کړی ' خوله هغه ځای څخه د ګمرک پنډیانو او جوالیانو په بېړه راوشاړه ' او د پنډیانو مشر ورته وویل چه: « که بله ورځ دې خوا ته راغلی وې پښی به دې ماتې کړم

خودده د ښو طالعو په وجه یو سړی ورته زغ کړه چه « دلته (وڅکې) پاکېږی ' ورشه کار به درته در کړی که څه هم نا وخته دی خو بیا هم څښتن ئی ضرورت لری. ګوندی واخلی. »

دوڅکو خاوند ورته وویل: « چه اوس خو سره غرمه ده (۷ نیمی) بجې دې خلک چه د سهار لمونځونه وکړی سمدلاسه کار ته کښېنی دا دی لمر سر ته راغلی دی که د ماښام تر آذانه پوری پاتی کېږی نو وا به دی خلو او که نه وی نو ځه په مخه دې ښه ' »

(بنګ) ورته ښه وکړه او سمدلاسه ئی په کار پیل وکړ ' (بنګ) په خورا

حرارت او د زړه دا خلاصه په کار گو تی پوری کړې او ژرژر ئی په دواړو لاسو نو وڅکې پا کولې. البته دا دومره وڅکی ئی هېڅکله به یو ځای نه وی لېدلی او چه د څښتن نظر به بلې خوا ته شو، نو ده به یوه ډکه لپه وڅکی خولې ته واچولې دی خو را ډار بده، چه که د وڅکو خاوند مې و گوری سمدستی به مې له کاره و کاږی او یا به تاوان را څخه واخلی. خو پدې وضعیت ډېروار خطا شو چه هغه و لېد مگر څه ئی ورته ونه ویل، او نه ئی ور باندی ځان پوه کړ. د (بنگ) ژبه د ډېرو وڅکو خوړ لو په سبب ژر تنا کی شه، او د نور و وڅکو خوړ لو څخه ئی بدراغلل. دغرمې په ډوډی باندی د سودا گر نما ینده و ویل: هلکو! هر ځوك چه دغرمی د ډوډی د پاره دوه گون نوټ غواړی هغه دې را شی او که ئی نه غواړی البته ماز دیگر به خپله مزدوری ټوله به یو ځای واخلی. (بنگ) ورته راوړاندی شو او ورسته له هغه چه دوه گون نوټ ئی ترینه واخست نو به پاسته مگر جدی ږغ ئی ورځنی پوښتنه و کړه:

صاحبا! زه خو سهار لږ څه وار خطا غوندې وم او د خپلې مزدوری پوښتنه مې ونه کړه چه دور ځی به څو را کوی!

«دا ته څه پوښتنه کوې؟ ته به وائی دغو نو رومزدورا نو ته مې له تا نه ډېری ور کړی دی. د چا حق نه خورو په خټو کښی چه ټوله ورځ خټی، خښتی او خاورې او تیږی وړې مزدوری اس افغانی در کوی. د لته حو کرار ناست یې، نه دې پښې په خټو وی او نه دې لاسونه په خټو کـــکړوی، او وڅکی هم خوري د ورځی در ته (۲) افغانی در کوو، که دې خوښه وی ښه ترښه او که نوی ځه ځان نیم روزه کړه»

(بنګ) له ځان سره فکر و کړ چه دغه وڅکی والا ښه وائی. کار خوئی د ومره سخت ندی. صرف دمزغی رګونه مې لږ څه وچ شی، که نه وی نور خو آرام یم. باید لږ څه زورور کار مونده کړم چه هم ئی زحمت ډیر وی او هم ئی اجوره زیاته وی داسپك کار دی باید همدغه ډول سپکه اجوره ولری.»

(بنګ) چه دماښام مزدوری واخستله بیا دبیدیدو دپاره یو کلی ته لاړ. ده لو مړی هڅه و کړه چه په مسجد کښ بیده شی، خو چاورته وویل چه دغه مسجد کښ څوك نه پریږدی نو ناچاره دیو نږدی کلی مسجد ته ورغی.

سهار وختی بیا دمزدورانو منډیې ته ورغې. په هغه خپل پرونی اشنا پسې کرځی کله وائی چه اوس لا بیخی وختی دی هغه به هم کلیو ته تللی وی او ناوخته به راشی. کله وائی چه هغه پر هغه خپل پرونی کار باندی پاتې شوی دی او دمزدورانو منډیی ته به دسره رانه شې. په همدې تردد او تشویش کښ ؤ چه سترګی ئی په هغه ونښتلی او هغه ئی سو که نرلاس ونیو.

«زه خو په تاپسې کرزیدم. مونږ خو پرون ښه کار مونده کړ، ته به د کار وموندلو دپاره لاس وپښې وهې. داسې نه ده چه بډایان به په تاپسې راځی او زاری به درته کوی بلکه ته به په بډایانو پسې زغلې او ځانته به کار پیدا کوی لکه چه پرون ماو کړل. اوس خو دمنی موسم دی. زمونږ ؤستاسی دمزدورانو ډلی دی سیمی ته راشیوه کیږی او زمونږ ؤستاسی په شان په خواریو او مزدوری پسې کرځې.

(بنګ) خپله قصه ورته و کړه. دده ملګری ددې خبرې په اروېدلو چه پرون ئی په لپو لپوو څکی خوړلی دی او ژبه ئی پرې ټنا کی شوې ده دخولې ناړې ئی داډول تیری کړې چه غړچ ئی (بنګ) پخپله واورېد.

بیا دوران ورته وویل چه راځه دمزدورانو غوندی ژوند کول دروښیم ، ته دمزدورانو او خواری کښود ډلې ئی، خوداسې څرګندېږی چه ژوند دسودا ګرو او بډایانو دخلکو په شان کوې ځکه چه پرون دې دوې غنمینی ډوډۍ په تخرګ کښی نیولی وې او دا ډول دې خوړلې چه ته به وائی چه یولوی زمیندار یې او یا دښه دکان څښتن یې .

دوی دواړه دمزدورانو له منډیې نه لیرې یو دکان ته راغلل چه دهغه د دروازې یوه پله پرانیتل شوې وه او بله ئی لانه وه خلاصه شوې، دنوروشیانو به جمله کښی په یوه زړه توکرۍ کښی یو څه توت پراته دی. داتوت په مټی ژیړ ښکاریږی یعنی ډیر زاړه توت وو ، دهرې دانی ځینی برخې ئی له زړوالی څخه توری او ښتی وی . دوی دواړه دیوغران دغه توت واخستل او دوران بخپله لمن کښی واچول او بیائی ده ته وویل «چه راځه بیر ته دمنډیې مخی ته ورشو او هلته به دا توت هم خورو او که څوك راغلل چه مزدوران ئی په کار وی نومونږ به ورته تیار حاضر یو . »

دتوتانو دخوړلو په وخت کښی (دوران) (بنګ) ته وویل چه: «ته خو په دې ښار کښی بیخی نابلده غوندی ښکارې . دلته په څلورو خواؤ کښی دمزدورانو دغه ډول (منډیې غوندی) ځایونه شته چه هلته دوی دکار دموندلو دپاره سره راغونډېږی. نوښه داده چه زه او ته ژر ژر دغه توت وخورو او لومړی تر هغه چه لمر راپورت کېږی مونږ - (که مو دلته کار مونده نه کړ) هغی بلې خواته ورشو، او هلته دیو څو دقیقو دپاره انتظار وباسو، که مو هلته هم کوم کار پیدا نه کړی شو، نو البته دریمې یا څلورمې خوا ته به ځو، مقصد

داچه یو کار دځان دپاره پیدا کړو او ورځ را باندی عبثه تېره نشی. ما پرون دوې خواوې را غوښتی او پلټلې وې، او چه دلته راغلم هغه ؤ چه کار مې وموند.»

په دغه وخت کښی لمر ځرك وواهه. دمزدورانو شور ماشور دی. څوك سوړسك اخلی - څوك غنمینه. او چا نینې چېچلې. او چا په څادر باندی تو تان اچولی دی او دری څلور کسان ور باندی را ټول دی او ژر ژر ئی خولی ته اچوی دلمر وړانګی لومړی د (دوران) په مخ ولګیدې چه دیوال ته ئی شالګولې وه او مخ په لمر خا ته ناست ؤ. د دوران سره بخنه بونډۍ زیره ئی نوره هم پسی سره غوندی کړه، او دزیری تارونه ئی که څه هم له ډېری مودې را ایسته ئی نه ؤ و پر یمنځلی، زانه ور وځلول.

په داسې حال کښی چه (دوران) پخپله ستر ګو باندی یو لاس چترۍ کړی ؤ او په بل ئی ژر ژر توت خولې ته اچول، (بنګ) ور ځنی پوښتنه و کړه چه:

«ماښام - ماښام ته چېر ته پر یوځې؟ هرچېر ته چه ځی ما هم له ځانه سره بیایه. زه خو تلتك نه لرم، برائی می ټوله شپه ساړه شوی دی. کوم ځای کښې چه ته څملې هغه ګرندې لږ څه تو دوی»

«ماخ تر اوسه پورې تاته ټول احوال نه دی ویلی. ځکه ماؤ تا دډیرو خبرو وخت هم نه دی موندلی. زه د . . . . صاحب مبارك ځای ته ځم. زما خو ورور هلته دی. زما ددغه ورور پښه په داسې حال کښی چه ختی ئې کولې ماته شوه. هغه مو ورو تړله او زمونږ یو وطندار دی چه هغه له . . . . مبارك سره ټول عمر تېر کړی دی بیا دغه وطن دار. زړه را باندې وسو او زما ورور ئې هلته

بوت .څو تعویزونه موورته راوړل. څو دمونه موپرې وکړل هېڅ اثرئې ونه کا هې وروره څه به درته وایم ! توله ورځ مزدوری کوم او هغه ددې ښو خلکو .

«قربان ئې شم» په خوږو کښې راڅخه ځی، تر اوسه پوری مې (۱۸) افغانۍ یوازی په تعویذو، په شکر انو کښې ور کړی دی. دهغو دپوښو بیعه خولا ایسته واچوه :څه وکړو، دمور زو کړی دی. مونږ وایو نن به ښه شی او سبا به ښه شي خودی لاهغسی دې. هیڅ ښه والی نه ترینه ښکاری. صاحب مبارك تل دم باندې کوی. گوندې پووخت ښه شی. نو هلته زه تا نه شم بیولای ځکه چه د.... صاحب مبارك ناظران او خلیفه گان دغسی (بنۍ والا) خلك ښه نه خوښوی او وای چه دوی حجری له شپږو ډکوی. البته که څه در پورې وای بیا دا خبری دو مره نشته . »

«بنگ» دهمدردۍ او تأسف په توگه سرو ښورا وه او ترشونډانو لاندې ئې دهغه دژر صحت دپاره غوښتنه وکړه. بیاه دوران، ورته رویل چه وروره درځه ناوخته شو . گمان نه کوم چه په دې خوا کښې دی نن څوك مزدورې مونده کړی . درځه هغه بلې خواته هلته گوندې د گمرك دخلکو او یاخود وړیو د کارخانی والاؤ یو څوك په کاروی .

دواړه په بپړه له هغه ځایه څخه را رهی شول او ځانونه ئې دمطلب ځای ته را ورسول او بې له دې چه کښېنې سره ودریدل. ددوی دو اړو ستر گې هر هغه څوك چه لږ څه ښوی او پاك کالی ئې اغوستی وی تعقیبوی او په خورا چمتو والی سره دهغه خواته گوری هر دغه ډول سړی چه د دوی خوا ته رادرومی (که څه هم بلې خواته تېرېږی) دوی او نور مزدوران په یوه پلا

دهغه وخواته هڅه ورو کړې او دټولو ستر کی دهغه سړی په ستر گو اوتندی کښې ښخې وی. نابلده خلك خود دې ډول حرکاتو به مقصد ښه پوه نه وی او گمان گوی چه مزدوران ددوی دوهلو او پردوی باندې د حملې دپاره ورځی او خوراځنې وبېرېږی .

وروسته له څو دقیقو یوهلکی چه د «چپړاسی» دریشی ئې اغوستې وه را ښکاره شو. هغه لالږ څه لیرې و چه وې ویل :

« هلکو مزدورانو نن ستاسو طالع راویښې شوی دی ' فابریکه (٤٠) کسه مزدوران دخپلو وړیو د مینځلو د پاره ضرورت لری . یو تر بل پیش د ستی مه کوی ء .تاسی ټول دې ایله (٤٠) کسه یاست د رځی ء چه ټول بوزم "

یوه زغ کړه چه «هلکه دفابریکې مزدوری څوده؟ اوس ئې لاراسره خلاصه کړه ! "

چپړاسی وویل دا زما په اختیار کښې نه ده . هرڅه چه" مدیر صاحب وویل هغه صحیح ده .

.. بنگ " په زړه خوراخوشحالی احساسوی اوفکر کوی چه گوندې دا کار به دډیر وورځو دپاره وی ده خپله داهیله "دوران " ته هم وویله چه هغه هم تائید کړه . دوران ورته وویل : وړم کال مونږ تقریباً دوه میاشتې بشپړې په همدغه فابریکه کښې کار و کړاو هر یوه ته ښه مزدوری ورولویده . خوما چندان څه نه تروایستلای شو ځکه چه زما خرڅ ډیرؤ او هره ورځ مې غلمینه ډوډی او پیاز سره خوړل نو که رښتیا درته ووایم گله کله مې چای هم څکلی دی وروه ! خوانسانان یو . ستړی شو . تاته به نه وی معلومه چه یوه تر خه چا ئنکه چای په یوه بشپړه (٢٥) پولې ورکوی. هغه وقت مزدوری هم دومره نه وه لوړه

خو بیا ډوډی هم دومره گرانه نه وه. سبز کال مزدوری ښه ده خو ډوډۍ او رخت ډیر لوړ دی خدای مودې پړ ده وکړی. ته درځه. هر څه به خدای آسانه کوی''

دمز دورانو ټوله ډله دفابریکی په وره کښې ودریدله چیړاسی ورته وویل چه اوس به زه مدیر صاحب ته راپورور کړم هغه به میرزا راولیږی چه ستاسی نومونه ولیکی. څو دقیقی وروسته مرزا راغی او دټولو نومونه د اصلی تاتوبی پته ئې ولیکله او بیا مرزا په لوړ زغ وویل: «ستاسی دورځې مزدوری به ٦-افغانی وی!'' بیاده باشی راغلې او ټول ئی دفابریکی دانګړ خوانه رهی کړل.

دفابریکی دانګړ په منځ کښی یو لوی حوض دی. په هغه کښی نور خلك هم وړی مینځی او دحوض شاوخوا ته ئې دوچیدو دپاره اچوی.'' بنګ ''او ''دوران'' دواړو دنورو مزدورانو په ډله کښې دوړیو په مینځولو پیل وکړ' ده باشیان هرې خوا ته گرزی او کوچنی لښتی ئی لاس کښی دي. هر څو قدمونه چه واخلی وائی؛ ''هلی خیر یوسیء لاس وخوروی ء' ډوډی حلاله کړی ء. هلی ء.'' د ده باشیانو زغونه خورا درانه شوی دی علت ئې همدا دی چه دوی ترمازیګر پوری همدغه ''هلی ءژرشی!'' ثارې وهې په تیره بیا چه رئیس او یا معاون راغلی وی او په خپل دفتر کښې ناست وی نو دده باشیانو غلبلی تر په خوا هم ډیرې شی. مازیګر خو دټولو غاړې بوږې شی.

«بنګ» و «دوران» ته وای کاشکی مو یوه پلا دننه فابریکه لېدلی وای چه څه شی دی زغ خوئی غوږونه کښوی. که په خپله ماشینان مو لالیدلی وای عجب ښه خوندبه ئې کړی وای

په دې وخت کښې دننه په ماشین خانه کښې او دباندې په انګړ کښې یوه زوږ جوړ شو . اوخورا برو، بروجوړ شوه . یوه ده باشی پر بنګ زغ کړل «ور وره! کار دې کوه. لږ څه لاس وښوروه! نه وینې چه معاون صاحب راغلی. دخدای روی ته و ګوری ء لږ څه ژر، ژر لاسونه وښوروی ء خوشې به مو برباد کړی.»

«بنګ چه سر پورته کړ ګوری چه ډله خلك په یوه سړی پسې. دی دمخه چه ځی خوراغټ او چاغ سړی دې . نس ئې ښه ډیر دده دمخه ځی. پنډ بینت ئې په لاس کښې دی. که څه هم هیڅ یخ نشته بیا هم ده خورا ښه ډیر وړین کالی اغوستی دی . دده یوه خورا ښه ښکلی دقره قل سره خولې په سر ده . ځینې خلك په ده پسې مستقیماً ترشا ځی ځینې په اړخو، خو لږ څه ترشاور سره دردمی. دوړیو د منځلو حوض سیمې ته چه راغی نو یوه کړی ء ئې پښه و نیوله او یو عمومی نظر ئې په کار ګرانو واچاوه بیا په خپله ورټیټ شو او یوه ټوټه پر یمنځل شوې وړی ئې چه دو چپدو دپاره ئې اچولې وی له مځکې څخه راواخیستله او هغه ئې کلوښته، کلوښته کړی او بیا ئې ستر ګوته ورنژدې کړه .

«که څه هم پاکې معلومېږی خو بیا هم چه سړی په ځیرورته و ګوری نو لږ څه خیرنې دی ده باشیانو ته امر ور کړی ء چه وړی په مزدورانو ښه مینځی او بل باید په دې مزدورانو کښې چڼ وشی، هغه چه ښه کار کوی هغه باید دتل دپاره دلته کار و کړی او هغه چه لټان دی او یا کمزوری دی هغه باید پرې نه ښودل شی چه دلته خپله ورځ تاوان کړی»

یوه مامور چه ژر، ژر ئې سا شړله وویل: «بلې صاحب! مونږ همداډول ترتیب نیولی دې!»

(د ۱۷ مخ پاته)

انار کلی

داؤ د مغلو دعلم دوست، ادب
پرور وپرهېز گار وپاچا هانو
اوشنهراو گانو دیانت اوسوچه
اخلاق چه لامارنگې ډېر نور
سادگان اوس هم د دوی په
دغسی ظاهرې دیانت داری
دو که کیږې اودعلم د نشر
واکمن ئې بولی مارنگی خلک
بایدو پوهېږی چه نن د تجربې
دنیاده بې تجربې باید تور
تیل دغوړیو په قیمت اونوم

وانخلی- دخلکو په اعمالو کښې
باید ځان زهیر کړی دمېږی
اوپسه غوښه د اشپز دزحمت نه
پس خپل اصل د کیډې جهاز
کښې ښیی- دچنار سکاره ډېر قلب
چلان خلک دڅیړی په نوم
خر څوی خود کور میر منسی
ورباندی دتجربې نه پس پوهیږی
چه داهغه څیړی نه ده چه سل کاله
اوبودغره په سر په صبر او قناعت
ودریدلې ده.

دپښتو ټولنی دتیر کال خپرونی

۱ : لوړ خیالو نه اوژور فکرونه

۲ : داور لمبې

۳ : پښتانه داقبال په نظر کښی

٤ : منطق

٥ : افغان قاموس

٦ : پښتو نثرونه

۷: پریشانه افکار:

۸: نړۍ په دوه زرم کال کښی

۹ :افغان قاموس دوهم ټوک

۱۰: دحنان دیوان

نوی چاپ شوی کتابونه

۱ : پښتنی دودونه

۲ :غوره نثرونه مؤلف ښاغلی الفت

۳- هغه وو یل

کابل مجله

تاسی کولای شیء چه په کابل کښې په (٤٠) افغانۍ په دننه هیواد کښی په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په ۱۲ کلداری په نورو د باندنیو هیوادونو کښی په (۳) ډالره لاس ته راولیء

دښوونځیو زده کونکو ته په نیمه بیه.

دیوه کال داشتراك دپاره په کابل کښې همدغه بیه دپښتو ټولنی دمحاسبې مدیریت ته اوپه ولایاتو کښې دهمدی مؤسسی دجاری شمېر په (۷۸۷٥) لمبر افغانستان بانك ته سپارل کېږی

دولتی مطبعه